WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA
1985

# تروږمۍ



زرین انځور

# تروږمۍ

د

زرین انځور

د لنډو کیسو مجموعه

PROPERTY OF ACKU
1148

Download From: Aghalibrary.com

۱۳۶۹

د وفا مشر:
پروفیسر عبدالرسول امین

---

* تروږمځ
* زرین انځور
* د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خپرونو څخه
* زر ټوکه
* خطاط : نورالحبیب نثار
* ګڼه : (۵۰)
* د ۱۳۶۹ ش ، عقرب
* د ۱۹۹۰ ع ، اکتوبر
* مطبعه : تاپ پرېنټرز ، پېښور

---

Download From: Aghalibrary.com

په دې مجموعه کښې :

- د سرېزې پرځای
- ستړي ګامونه
- نخښه
- وطن
- تروږمۍ
- زړه کلا
- کوچنی غازي
- ورکه سندره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د سریزې پرځای :

"تروږمې" زما د لنډو کیسو دریمه مجموعه ده چې دا دی تاسو ادب دوستانو ته یې وړاندې کوم. له دې پخوا زما د لنډو کیسو لومړۍ مجموعه د "دا سړونه، دا رسمونه" په نوم چاپ شوې ده، چې شپاړس لنډې کیسې په کښې راغلې دي. زما د لنډو کیسو دویمه چاپي مجموعه "شارې کوڅې" نومیږي او پنځلس لنډې کیسې په کښې خپرې شوې دي.

"تروږمې" زما د اوو (۷) لنډو کیسو یوه کوچنۍ شان مجموعه ده چې دا دی د هجرت په سیمه کښې یې د خپریدلو ویاړ را په برخه کیږي.

"تروږمې" او د "تروږمې" یو لړ نورې کیسې د سوړ وحشت په تراژیډیو کښې، د بد مرغیو، ماتم او مرګ د ځښنو ارخونو

ويرلړلي انګازه ده ، چې تاسو به يې د څو لسدو کيسو په لوستو ولولئ .

دا رانه ښه ښکاره نه شوه چې په خپله اوږده مقدمه موسترې کړم او د خپلو کيسو په باب خبرې درسره وکړم. کيسې خپله خبرې کوي ، خپله بايد يو څه ووايي . دا چې څنګه يې وايي ، په دې باب هم زه څه نه شم ويلی ، تاسو به يې خپله ولولئ او څکه خو به د کيسو په باب هم يو مجموعي تأثر درسره پيدا شي .

زه به خوشحاله وم که مې د خپلو د غو څو لسدو کيسو د ليکلو هغه انګېزې ، داستاني انګازې کړې وي ، چې پر ما يې دا کيسې ليکلې دي او تاسو ته يې دا کيسې دراوړي وي .

په مينه

زرين انځور

۱۳۶۹ ، ۸ ، ۹

ستري كامونه

موږ ډېر ستړي شوي او وږي شوي وو . نور نو موږ
د لوږې توان نه لاره . د زیاتو ګرځېدلو او لټون توان هم نه و
راته پاتې . د سهار له څلور بجو مو په ګرځېدلو او لټون پیل
کړی و . درې ټوپکې او پټکي او څه نور سامان مو شا او اوږو ته
پراته وو . دا شیان مو تل له ځانه سره ګرځول . همسې خواوس
موږ له دغو ټولو شیانو سره عادت کړی و خو نن زموږ ستړیا
څه بل ډول وه . نن موږ د جنګ د تاوده ډګر پرځای هدلته د
ښار په یو لیرې شان کوټ کښې ګرځېدلو . لټون موکولو . یو
څه مو لټول ، نه ، ډېر څه مو لټول ، هر څه مو چې پیدا کولی
شول ، له انسانانو نیولې تر نورو شیانو . نن یې د جنګ پرځای
لټون موږ ته راسپارلی و . دغه برخه زموږ د درې تنو په وېش کښې

رسېدلې وه . يو زۀ او دوه تنه زما عسکر . رښتيا زۀ صاحب‌منصب
يم ، لومړی بريدمن يم . دوه تنه عسکر مې يو جبار نومېده
چې نری او وچ کلک و . خو د زړورتيا به يې څۀ درته وايم ! دويم
يې شانور نومېده . خو دومره په خپل نوم نه و مشهور لکه په
"پړسو" . نورو عسکرو به د ملنډو له پاره "پړسو" باله . زما
له لومړي سرتېري څخه يې سرچپه خويونه لرل . ناوخته به له
خوبه راويښېده . ژر به ستړی کېده ، ژر به وږی کېده
چاغوبی شانته و . لکه تل چې يې په هډوکو درد وي . خو
د ښۀ سړيتوب يې نو حد نه و . ډېر زړۀ سواندی و . د جنګ
مزه يې هم له هډې کبله نه وه . تاسو ته خو معلومه ده چې
داسې زړۀ سواندي او مهربانه کسان ښۀ جنګ نه شي کولی
اصلاً جنګ نه شي کولی او که زما پر زړۀ وای نو داسې کسان
به مې هېڅکله جګړې ته نه لېږل . زړۀ سوی او جنګ ، مينه
او جنګ ، مهرباني او جنګ دا ډېر سره لېرې شيونه دي . شانور
هداسې و . زۀ خپله نه د جبار په څېر وم او نه د شانور
په ډول . يو څۀ د يوۀ په شان وم او يو څۀ د بل په څېر . نيم
جبار وم او نيم شانور . جبار که به ډوډۍ وخوړله او که
نه ، خو توپک يې ښۀ په مزه چلولو او شانور که به ډوډۍ
نه وه خوړلې نو بيا خو يې يو نارته هم لاس نه ورته او
که کېده به يې ټکه شوه ، بيا خو به په سختۍ له ځايه
پورته کېدای شو . ما به کله کله فکر وکړ چې کېدای شي

دی دارن وی ، خو د ومره دارن هم نهٔ و . یوځهٔ به دارن و او یوځهٔ به تنبل ، زهٔ خپله هم کله کله دارېږم . خو تر او سه پورې ما څوک پرځان نهٔ دی پوه کړی ، یا څوک نهٔ دی راباندې پوه شوی او یا خو بنایی زهٔ داسې فکر کوم چې ګوندې څوک نهٔ راباندې پوهېږی ، یا به ټول خلک هداسې وی . دېر زړه ور کسان هم کله کله دارېږي .

موږ د ومره لټون زیات سترې کړلو . غرمه هم تېره شوې وه خو موږ د څهٔ شي څکه لا نهٔ وه کړې . عسکري درانده بوټان لکه چې نور هم درانده شوی وی . موږ اوس د ومره ګرځېدلی وو چې قدم به مو اخېست لکه چې څوک مو پهٔ درنډو موزو پورې نښتی وی . داسې به درېندې شوې چې زموږ قدم اخېستل به لهٔ لا زیاتو ستونزو سره مخامخ شو . ما خو به فکر وکړ چې ګوندې څو تنه مې پهٔ موزو پورې ځوړند دی او یا خو د ځمکې مقناطیس څو برابره ځواکمن شوی دی . موږ اوس ویجاړ کورونه لټول . د ښار زیاتره کورونه ویجاړ شوي وو . موږ باید لهٔ دغو ویجاړو هم یوځهٔ بود کړي وای ، خو اوس موږ د ومره سترې شوي او وږي شوي وو چې د نور لټون ځواک نهٔ و راکښې پاتې .

موږ بې لهٔ دې هم پهٔ ټوله ورځ کښې پهٔ دغو ویجاړو کښې څهٔ پیدا نهٔ کړی شول ، او که نور هیڅ مو نهٔ وای پیدا کړي خو یوانږې د خوراک لهٔ پاره مو یوځهٔ موندلي وای ، بیا

هم غټه خبره وه . خوکوږونه د خوراک له څښتن‌ونو د اسې خالي شوي ول، لکه هرڅه چې د ې په جارو راټول کړي وي . موږ زيات ستړي شو . په يوه ويجاړه کښې ما خپلو عسکرو ته امر وکړ چې لږه دمه وکړو . موږ لږه شيبه کېناستلو . جبار په قهرېدلي غږ وويل :

— هېڅ ننشته ، ټول خلک له د ې ځايه وتلي دي .

شانور له ځانه سره وغوربد :

— چې خلک نه وي نو په داسې ځايو کښې زموږ ګرځېدل څه ضرور ؟

زه چپ وم خو جبار بيا خپل اواز لوړ کړ :

— هرڅه ويجاړ دي ، هرڅه ويجاړ شوي . . . .

شانور بيا له ځانه سره وغوربد :

— کله چې د چا په لاس کښې ټوپکونه وي ، هرڅه ويجاړيږي اخر دا ټوپکونه پرته له ويجاړتيا څه کولی شي ؟

خپل ټوپک ته يې بد بد وکتل . بيا يې زما او د جبار ټوپکونو ته هم يو کرکجن نظر وا چاوه او بيا هم وغوربد :

— چې دا به چا جوړ کړي وي !؟

خپلې لاړې يې تو کړې او ټوپکونو ته يې بيا د کرکې يو نظر وکړ . دا ځل يې غږ له غوربدلو څخه يو څه منسجم او لوړ شو :

— زه د پېرپخوا کلونه دلته راغلی وم . دلته پخوا هرڅه بل ډول وو . پخوا دلته هرڅه تک شنه او ښايسته وو . . . .

جبار ته يې ور وکتل او خبره يې اوږده کړه :

— عجیبه سیله ده ، عجب خلک یې وو ، خو ... زموږ

له لاسه ... هدا زموږ له لاسه ..

خدای زده په زړه کښې یې څه ورتېر شول ، لنډه شیبه یې

څنډ وکړ . داخل یې بېرته د خبرو عادي حالت ورکړ شو او بیا

له ځانه سره وغوړېد :

— اخر دا ولې ... دا ولې ؟

بیا یې لاړې تو کړې غوړېږي یې سره شول . ما

هېڅکله هم شانوږ په داسې حالت کښې نه و لیدلی .

لږه شیبه موږ ټول چپ وو . د شانوږ مخ دا ځل ماته

راواوښت :

— ضابط صاحب ! قیامت به هداسې وي نو ؟

ما هېڅ هم ونه ویل . هغه بیا ماته مخ راواړاو :

— ضابط صاحب ! تا یخوا دا ځای نه و لیدلی ، جبار به

هم نه و لیدلی ، خو د خدای راستي ده چې کله دې لیدلی وای نو

پرې مین شوې به وای ، زه همدلته د یوې نږدې سیمې یم .

زما پر شوندو یوه ترخه موسکا خپره شوه :

— لیدلی مې و ، ښو ښو ځله مې لیدلی و . ډېرې شپې مې

په کښې تېرې کړې دي . دلته مې د یوه خپلوان کور و . ما

به هر ژمی هدلته تېراوه ، خپلوان څه ؟ د خپل ماما

کور مې و .

جبار زموږ په خبرو کښې راولوېد :

– شانوړ داسې خیال کوي چې ګونډې پوازې دهٔ لېدلې و....
شانوړ بیا لهٔ ځانه سره وغوړېد :
– پخوا دلته عجیبه ښایست و . هرڅهٔ ښایسته وو.
دا اوس چې لا څهٔ قیامت رانازل شوی دی . . . .

خدای خبر چې شانوړ به نورې څهٔ خبرې کړې وې ، خو
ما د هغهٔ پاتې خبرې وانهٔ ورېدې . زما ذهن ډېرو پخوا
کلونو ته لاړ . هغو ژمو ته چې ما دلته تېر کړي وو . زما
ښهٔ یاد شي چې زما ماما هم دلته اوسېدهٔ . د هغهٔ لهٔ زوی
سره به ټول ژمی یوځای وم . یو بایسکل مو لرلو . دواړو تنو
به پهٔ ټول ښار کښې پهٔ هماغهٔ بایسکل ګرځېدلو . عجیبه وخت
و . څهٔ نارنجان ، څهٔ ډول مېوې ، څهٔ چپلی کبابونه ، څهٔ
باغونه ، څهٔ ښایسته ژمی ! هرڅهٔ بل ډول وو ، د هغو
شیانو هېڅ نخښه اوس نهٔ وه پاتې . جمدر هم نهٔ و پاتې.
جمدر هماغه زما همزولی و ، زما د ماما زوی و . هغوی
اوس لهٔ دې ځایه تللي وو ، کډه یې کړې وه . ښکته ته تللی
وو . چا به لا پهٔ کښې ویل چې جمدر اوس اخوا ته ښهٔ غټ
سړی دی .

ما ته جمدر راياد شو . د هغهٔ مستانه خویونه رایاد
شول . هغهٔ زهٔ هم لهٔ ځانه سره مست کړی وم . زهٔ او
هغه به تل سره یوځای وو . زهٔ به پهٔ ژمي کښې ډېرې
شپې دلته وم او هغه به پهٔ اوړي کښې ډېرې شپې هلته

راته. خو اوس جهدر هم نهٔ و ، دلته هېڅوک نهٔ وو پاتې
دلته هرڅهٔ وران شوي وو ، زما پهٔ زړهٔ کښې راوګرځېدل:

— کاشکې ، هرڅهٔ لکه د پخوا پهٔ شان وای . . . کاشکې اوس
هم د پخوا پهٔ شان ښایست وای ، مینه وای . . . هرڅهٔ
شنهٔ وای . . . خلک وای ، ګڼه ګوڼه وای . . . .

زما سوچونه نور هم پسې اوږده بدل ، خو جبار راغږ
کړ :

— ضابط صاحب ! ترڅو به دلته ناست یو ؟

زما ځان ته فکر شو . لهٔ ځایه راپورته شوم ، خو ډېر
پهٔ سختۍ راجګ شوم ، لکه چاچې پهٔ زنګې پورې تړلی وم .
هغوی هم ډېر پهٔ سختۍ لهٔ ځایه راپورته شول . لهٔ دومره
دمې سره سره لا پهٔ موږ کښې د تګ توان نهٔ و پیدا شوی.
پهٔ سختۍ پهٔ لاره روان شولو . موږ لا یوڅو قدمونه
نهٔ وو پورته کړي چې جبار غږ کړ :

— چرګه . . . چرګه . . . .

موږ ټول پرځای ودرېدلو . رښتیا هم یوه چرګه پهٔ
کنډواله کښې یوې او بلې خوا ته سرګردانه ګرځېدله . زهٔ پهٔ
تعجب کښې شوم چې اخر دلته دا چرګه لهٔ کومه پاتې ده؟
دلته څهٔ کوي ؟ دلته خو هېڅوک هم نشته . موږ زیات
وږي وو . د چرګې راپیدا کېدل نهوښ لهٔ پاره د کېدې دمړولو
یو امید هم و . شانور غږ کړ :

- خامخا به لهٔ کوم چا پاتې شوې وي ، یا به لهٔ کوم بل ځایه راوړکه شوې وي .

جبار وویل :

- هر څنګه چې وي خو د خوراک لهٔ پاره یو څهٔ راپیدا شول .

زما په زړهٔ کښې بیا هم تیر شول :

- دا به لهٔ چا پاتې شوې وي ؟!

چرګه سرګردانه ګرځېدله او پرله پسې غږونه یې کول :

- کوټ . . . کوټ . . . کوټ . . . .

شانور غږ کړ :

- کوړکه چرګه ده ، کوړکه ده . . . .

جبار وویل :

- پهٔ کوړکه مورکه پسې یې مهٔ ګرځه ، خو راینول یې پهٔ کار دي .

د واړهٔ زما امر ته منتظر پاتې شول . ما وړغږ کړ :

- راویې نیسئ !

دوارو لهٔ خپلو توپکونو سره یو ځای پهٔ چرګه پسې منډې پیل کړې . اوس لهٔ دوی سره د منډې عجیبه توان پیدا شوی و . چرګې لهٔ هغوی څخه د ستړیا پخوانی احساس هېر کړی و . زهٔ هم پهٔ دوی پسې کرار کرار وروروان شوم . چرګه لاس ته نهٔ ورتلله . یوې او بلې خوا ته یې منډې وهلې . اخر یوهٔ کوړ ته ننوتله . شا او خوا ته نور کوړونه ویجاړ وو

خو هغه کوړ روغ پاتې شوی و . چرګه هم دغه روغ کوړ ته ورننوتله . زه يوڅه شکي شانته شوم . د ټوپک لټه مې ورواهه او خپله پښه مې يوڅه تېزه کړله . هغوی لا په چرګه پسې هماغسې منډې وهلې . زما په زړه کښې بيا تېر شول :

- چې دا به له چا پاتې شوې وي !

خو دا ځل مې په زړه کښې څه شک هم ورپسې تېر شو :

- دا به دلته څه کوي ؟ يوازې يو ژوندی ځيني . يوازې يوه ژوندۍ چرګه !؟

او خپله پښه مې نوره هم تېزه کړله . زه هم د کوړ په بېرته پاتې شوې دروازه ورننوتم . دروازې ټولې بېرته وې . يا د کوړونو دروازې ړنګې وې او يا خو بېرته پرتې وې . چرګې هماغسې سرګردانې منډې وهلې . جبار او شانور هم سوګند ورته کړی و چې رانيسي به يې . زه هم ورو ورو په هغوی پسې روان وم . زما درانده بوټان نور هم پسې درنېدل . لکه چې هو شيبه يو بل ځوک هم ورپورې نښلي . لکه چې د دې کوړونو ټول پرېښودنکي زما په درنو بوټانو پورې نښتي وي او ما کام اخيستو ته نه پرېږدي . خو هغوی لا هماغسې منډې وهلې . کوړکې چرګې هم هماغسې منډې وهلې . چرګې هم عجيبه توان پيدا کړی و . د رانيولو او حلالو له ډاره څخه داسې عجيبه توان هم پيدا کېدای شي . توان ، تل د

یوځه له امله راپیدا کېږي. یوې انګېزې ته ضرورت لري، یوځه یوچا ته د یوځه توان ورکوي، توان زیاتېدلی هم شي، په هاغې انګېزې پورې اړه لري، که انګېزه لویه وي، توان هم لوی وي.

ما په دې وخت کښې یوځل بیا د غو کورونو ته وکتل چې زیاتره یې په کنډوالو بدل شوي وو، هغوی چې دا کورونه یې پرېښي وو، د یوه توان له مخې یې دا کار کړی و، یا یوه توان د کورونو پرېښودلو ته اړ کړي وو، توان هم داسې راپیدا کېږي توان په هغو وسیلو راپیدا کېدای شي. چرګې هاغسې منډې وهلې، نور یې نو جبار او شانور هم ستړي کړي وو. ما که منډې نه وهلې، خو ستړیا مې له هغوی هم زیاته وه. چرګه یوه د هلېز ته ننوتله، موږ هم د هلېز ته ورغلو. له د هلېز څخه یې کوټې ته منډه کړله، د کوټې دروازه هم بېرته وه. موږ هم کوټې ته ورننوتلو او چې موږ څنګه کوټې ته ورننوتلو نو تول د کوټې په دروازه کښې ودرېدلو. لکه له تولو څخه چې ساوې وتلې وي. په پېښو کښې مو د یل قدم د اخېستلو توان نه و پاتې. توان راڅخه اخېستل شوی و. توان داسې هم اخېستل کېدای شي. د کوټې په منځ کښې یو بوډا شان سړی او یوه پخه شان ښځه پراته وو. د ښځې د سر لاندې د سړي لاس اېښودل شوی و. همداسې غزېدلي پراته وو. مړه وو. دواړه مړه وو. شانور ورورانډې شو. هغوی یې وخوځول. هېڅ زخم یې نه لاره. جبار د هلېز

ته ورتت. راغږ یې کړ :

- دوه ماشومان دلته پراته دي !

د هغه غږ زموږ په غوږونو کښې انګازې جوړې کړې. په ځان پوه نه شو، خو بیا له کوټې وتلي وو. د بلې کوټې په دروازې کښې جبار ولاړ وو. موږ ته یې لاس پورته کړ. موږ ولیدل چې هغوی هم د کوټې په منځ کښې غځېدلي پراته دي. دواړه یو له بل سره نژدې پراته وو. شانور ورورانده شو. هغوی هم کوم زخم نه لاره. شانور موږ ته وکتل او له ځانه سره وغوږېد :

- آ... دا ولې ....

او موږ ټولو خپلو درنو عسکري بوټانو ته بد بد وکتل.

د کوړکۍ چړکۍ اواز بیا واورېدل شو :

- کوټ ... کوټ ... کوټ ....

موږ له دهلېزه هم بهرته راووتلو. یوځل مو یو بل ته بد بد سره وکتل. هیڅ خبره مو له خولې څخه نه وتله ځان بدې راته ښکاره کېده، لکه چې دوی ټول موږ په خپلو ټوپکو ویشتلي وي. ما یوځل بیا خپل ټوپک ته او د نورو دواړو ټوپکونو ته وکتل، خدای خبر څنګه زه هم لکه د شانور په شان له ځانه سره وغوږېدم :

- ټوپک ... ټوپک ....

لاړې مې تو کړې. یوځل مې بیا دهلېز ته ور وکتل

او په قهربدلي غږ مې قومانده ورکړه !

-مارش ، مارش ! له کوره ووځئ !!

# نخبه

PROPERTY OF ACKU 1148

رنګ یې تک زېړ ؤ ، لکه چې زېښبلی دې وي ، لکه چې توله وینه ترې زېښبل شوې وه ، د نه،لسو کلو د شا او خوا معلومېده. شلېدلې او خیرنې جامې یې په غاړه کښې وې . په پښو کښې یې څپلۍ نه وې او یوه زړه خیرنه خولۍ یې پر سر پرته وه . پر سر د پرتې خولۍ رنګ یې په خیرو کښې ورک شوی ؤ . د سرو ربړونو یوه لینده یې غاړې ته اچولې وه . او چت اوچت ګامونه یې اخیستل ، ګامونه یې هم له ماتم څخه ډک ښکارېدل . په هر ګام کښې یې یو غم پروت ؤ . په لاره یې څو ځله تیندک وخوړ او داسې ښکارېده لکه چې په کوم ژور فکر کښې داسې ډوب شوی وي چې نه یې لارې ته خیال وي او نه خپل ځان ته . د لارې په منځ کښې یو ناڅاپه ودرېد ، خپله لینده یې له غاړې لرې

کړه او په خپل ښي لاس کښې یې ټینګه ونیوله . خپل شا او خوا ته یې وکتل . په لویه لار کښې یې سترګې ورښخې کړې . غوږونو یې څه واورېدل :

–غ غ ... غر ... ررر ... غرغر ...

منډه یې کړله او د یو لوی ګټ شاته کېناست . د ګټ په څنګ کښې یې لارې ته کتل . د لوی خام سړک له یو اړخ څخه د کلي لوېې لارې ته د ټانکونو یوه لیکه راروانه وه . تکه توره لیکه یې جوړه کړې وه ، لکه تک تور ښامار . د ټانکونو غړهار رانژدې کېده . اول خان له لوی ګټ څخه سر یوڅه را اوچت کړ ، خپلې لیندۍ ته یې وروکتل . هغه یې د ازمېښت له پاره یوځل راښکودله ، بیا یې خپل شا او خوا ته وکتل . ټولې تیرېې وې ، لوېې او کوچنۍ تیږې . یو څنګ ته یې کلی پروت و . د کلي تکې شنې ونې غمجنې ښکارېدې . هېڅوک په کلي کښې نه وو پاتې . اوبه هماغسې په ویالو کښې بهېدلې . خو هغه پخوانۍ مستي په کښې نه ښکارېده . لکه په دې ویاله کښې چې د کلي اوښکې روانې وې ، د هر کور اوښکې ، د تشو دېرو او حجرو اوښکې ، د ټول کلي د غم اوښکې ! ویالې همداسې ښکارېدې او د بهاندو ویالو اوبه همداسې ! ماشوم اول خان د کلي هغه بل څنګ ته وکتل . غونډۍ پرې زیړ شو ، تکو شنو او سپینو جنډو یې سترګې ورو بربېښولې . هلته د کلي هدیره وه . نیمه هدیره اوس نوې جوړه شوې وه او د غه هدیره ټوله

سپینې او شنو جنډو نیولې وه . اول خان ته یو ځل بیا هغه ورځ وریاده شوله :

د الوتکو کړنګهار او غرهار ټول کلی په سر واخیست. یو قیامت جوړ شو . الوتکې یو څو ځلې له کلي نه تاو راتاو شولې او بیا یو ناڅاپه د بمونو او تندرونو یو بل قیامت جوړ شو . اورونه په کلي ووریدل . د قیامت یوه ورځ وه چې په کلي راغلې وه . زوی او مور ته سره پیژندل ، خور او ورور یو له بله سره جلا شول . تندرونه ووریدل . او بیا لږه شیبه وروسته کلی په یوه چوپتیا کښې ډوب شو . لکه په ټول کلي کښې چې کفن غوړیدلی وي ، او بیا یو نیم تن په کلي کښې په غوړیدلي کفن کښې وخوزید . پر کلي یو غم پریوت ، د مړکونو یو لوی غم . الوتکو ډیر کورونه وران کړي وو . ډیر کسان وژل شوي وو . کلی ټکو سرو وینو نیولی و . د کلي په ویالو کښې د اوبو پرځای هغه ورځ وینې بهیدلې . د خزان اکا په کور کښې یوازې اول خان ژوندی پاتې و . خپله خزان اکا ، کډه یې او لور یې چې له اول خان څخه مشره وه ، ټول په د غو اورونو او بمونو کښې سوزیدلي وو . داسې یې نور کلي هم لکه په لور چې ربلي وي . ډیرې ټنکې غوټۍ رژیدلې وې. ډیر یې وسه امیدونه خاورې ایرې شوې وو . د هغه کلي په هدیره کښې څو ورځې کسنه کورنه وه . په څو ورځو کښې هغه مړي خاورو ته وسپارل شول .

یوه نوې هدیره جوړه شوه او هدیره په څو ورځو کښې په شلو ، سلو او سپینو جنازو ډکه شوه . یوځا د کلي په باب څهٔ رپوټ کړې ؤ او بیا څو الوتکو پر کلي څهٔ داسې وحشت او ماتم راوستی و .

د اول خان سترګې د هدیرې په یو کونج کښې په یوڅو جنازو کښې هداسې ښخې پاتې شوې . هلته یې پلار ، مور او کشره خور څو ورځې مخکښې تر خاورو لاندې شوي وو. نور ډېر خیل خپلوان یې هم هلته تر خاورو لاندې پراته وو. د هدیرې د جنازو د ړیا ډیوټ نوونکي غږ له ډېر لیرې واټن څخه د دهٔ غوږونو ته رارسېدهٔ ، او لکه چې هدغه ډیونوونکي غږ هغهٔ ته څهٔ وایي ، هغه څهٔ کړو ته ورجوړي او د هغهٔ په غوږونو کښې انګازې جوړوي .

کلي اوس ښځي خالي شوی ؤ . د الوتکو له وحشت وروسته یوه ورځ بیا په کلي کښې هنګامه جوړه شوه چې نن بیا الوتکې راځي . په هماغه ورځ ټول پاتې کسان له کلي ووتل . پورې غرونو ته لاړل . ډک کورونه تږې پاتې شول ، ډک پټي تږې پاتې شول.

نن اول خان له غرونو راکوز شوی . خدای خبر هغهٔ ته څهٔ په زړه کښې ورګرځېدلي وو، چې د کلي هوا یې کړې وه. کلي ته نه ، د کلي هدیرې ته راغلی ؤ . ډېره شیبه په هدیره کښې ؤ ، خو اوس بېرته روان ؤ او دا دی اوس له کلي ډېر وړاندې له لوېې لارې څخه پاس د غونډۍ یو اړخ ته یوې

لویې کښتۍ ته ناست و . د ټانکونو اواز د هغهٔ فکر بېرته لهٔ
تېرو یادونو څخه راوړاو . اوس نو ټانکونه دهٔ ته ښه
رانژدې شوي وو . د ټانکونو غړونو د غوږونو پردې څیرلې .
د اول خان شونډې وړپېدلې :

— رانژدې ... شول ... را ... وړسېدل ...

یو غټ کاڼی یې د لیندۍ ( غولکې ) په پټاک کښې کېښود .
لومړی ټانک د هغهٔ لهٔ مخې تېر شو . دوېم په بیړه تېر شو .
غرهاړې یې ټوله غونډۍ خوځوله . دریم ټانک رانژدې شو .
یو تن په کښې خپل سر رابهر کړې . تک سرهٔ وېښتان یې
د لارې ګردونو داسې لړلي وو چې د سور رنګ پرځای یې خړ
رنګ خپل کړی و . تک سور مخ یې هم ښهٔ سم په خاورو ککړ
و . د اول خان شونډې وخوځېدې .

— روسی دی ... روسی دی ... رو ... سی ....

او هغهٔ لینده په پوره زور راښکله . د هغهٔ یوه سترګه
پټه شوه او بیا یې کاڼی خوشې شوی او په نخښه شوی تن
پرې لګېدلی و . د هغهٔ د سر پر کیڼ اړخ د وینو نخښې
راڅرګندې شوې .

هغهٔ خپل شا او خوا ته هم ونهٔ کتل . په بیړه د ټانک
د ننه وړولوېد او د ټانک په یوه کښې چټکي پیدا شوه . وړسې
بل ټانک راورسېد . یو لوڅ روسی په کښې ناست و . کمیس
یې په غاړه کښې نهٔ و او داسې تک سور ښکارېدهٔ لکه چې

ټوله وينه وي . د غونډۍ خواته يې په فاتحانه انداز کښې کتل . اول خان بله تيره ګوزار نه جوړه کړه . لينده يې کش کړه او کاني د ټانک پر سر د نخښنه شوي تن پر ښې سترګه ور ښخ شو . هغه لکه چې په ګولۍ لګېدلی وي ، يو کړيکه يې وکړه او په ټانک کښې ورلوېد . ټانک نور هم توند شو . د ټانکونو غرهار د هغه غږ وخوړ او بل چاته يې وينه رساوه .
اول خان بيا هم لينده کش کړه ، پر بل ټانک سپور يې پر يې په نخښنه کړ ، خو خطا شو . شوندې يې وچيچلې او خپلې لينډې ته يې بد بد وکتل ، لکه دښمن ته چې څوک ګوري . شونډې يې وخوځېدې :
– د خېنځير لينډې !
بيا يې په زړه کښې ورو وګرځېدل :
– ما خو کله هم نخښنه نه وه خطا کړې . خدای زده ولې داسې وشول ؟!
هغه په هدې سوچونو کښې و چې د ټانکونو د بهير غږ يو ځل ودرېد . د لسو په شا او خوا کښې ټانکونه به تېر شوي وو چې د ټانکونو زنځير تم شو .
يو ناڅاپه د ټولو ټانکونو خولې د غونډۍ لوري ته راواوښتې . بيا يو قيامت جوړ شو . پر غونډۍ يې د اور باران جوړ کړ . ټولې تيرې يې ووېشتې ، ټول غر يې زخمي زخمي کړ . او بيا ده شيبه غونډۍ ويشتل کېده . د ټولو ټانکونو له خولو اور ونه

ورېدل . بيا لږه شيبه وروسته کرارې شوه . د ټانکونو د قطعې قوماندان امر وکړ :

- پلي شئ . . .

ګڼ شمېر کسان پلي شول . ډول ډول وسلې ورسره وې . د غونډۍ لوري ته راسم شول . قوماندان بيا ورغږ کړ :

- د غونډۍ په لور . . .

اول خان دغه خبرې اورېدلې . هغه ژوندی و . د لوی ګټې شاته يې يو ډېر خونديځای پيدا کړی و . يو سور لښکر و چې د ده پر لورې وررووان و . اول خان بيا يو ناڅاپه خپل کلي ته ورو کتل . د هديرې سپينو او شنو جنډو بيا د هغه سترګې ورو برېښولې او هسې په زړه کښې يې تېر شول :

- که د کلي ټول ځوانان راسره وای !

په خپله لينده کښې يې بيا يو کاڼی کېښود . سر يې راجګ کړ او يو تن يې په کښې په نخښه کړ . لينده يې کش کړه او بيا هغه په نخښه شوی تن پر تندي لګېدلی و . له تندي يې ټکه سره وينه راوخوټېده . هغه يوه چغه کړه او له دې چغې سره سم ټول پر ځای ودرېدل . د ګولو باران بيا جوړ شو . اول خان بيا هم يو بل نوله کاڼی پيدا کړ او د لينديې په پټاک کښې يې ځای پرځای کړ . لينده يې بله سه رابښکوده . د ګولو د غږ په شڼګ کښې ، هغه د هديرې د جنډو د رپا هېبتي غږ هم اورېده . لينده يې نوره هم رابښکوده . هغه

یوتن ربښهٔ په تخښبه کړی و. بیا هغه ورځ په ذهن کښې ورشوند شوه چې الوتکې راغلې وې. خپل پلار، خپله مور او خپله مشره خور وریاد شول، او هغهٔ لیندې ته نور زور هم ورکړ. د لیندې ربړ وشکېدهٔ او د اول خان لهٔ خولې یو" آه "وخوت. د ګولو باران نور هم زیات شو. هغه لهٔ ځایه پاڅېد او د بل کټ څنګ ته یې ځان ورساوهٔ. هغه حیران شو، هېڅ شی هم ورسره نهٔ و. یو لوی لښکر د دهٔ په لوري رارون و. دګولیو باران نور هم چټک شو. اول خان بله هېڅ چاره ونهٔ لېدله. لمن یې لهٔ تیږو ډکه کړه. لهٔ ځایه پاڅېد او د لښکر مخې ته یې رامنډه کړه. څو تیږې یې په بیړه د هغوی په لور وویشتې. خو بیا ډېر زر څو ګولیو په ګڼه د کوچنی اول خان ټول وجود غلبېل غلبېل کړ.

د هغهٔ تنکی وینې د غونډۍ د شا ان خوا څو تیږې تکې سرې کړې. لکه چې پر د غو تیږو هغهٔ د خپلې قربانۍ د ویاړ تخښبه ابدي کړې وي.

# وطن

زهٔ لهٔ ډېرې مودې راهیسې پهٔ دې کار اخته یم . دا کسب ما ته لهٔ پلاره پاتې دی . زهٔ چې لا ېېخي کوچنی وم نو لهٔ پلار سره به مې پهٔ دې کار کښې مرسته کوله . هغه وخت ما لهٔ خپل پلار سره دومره زیاته مرسته نهٔ شوه کولی ، خو تر خپلې وسې به مې کار ورسره کاوهٔ . کله به هغه پهٔ خپل کار کښې دومره ستړی شو چې د خولو ویالې به یې روانې شوې او کهٔ ما به د هغهٔ د کار پهٔ هکله کومه ښه خبره هم وکړه ، پر هغهٔ به بده لګېدله . لکه چې زما خبره هیڅ اورېدې نه . ماکهٔ به هر څهٔ ورته ویل ، هغهٔ به یوازې یوه خبره راته کوله :

– خولهٔ دې دروګنده !

او کله چې به لهٔ دې نه هم زیات پهٔ غصه و ، نو بیا خو

به یې په یو ځهٔ اوچت اواز وویل :

ـ خولهٔ دې ګنډلې ، که دې ورېې ګنډلم ؟

ما به غلی ځواب ورکړ :

ـ بښه ده نور ځهٔ نهٔ وایم .

او ما به خپله خولهٔ وګنډله . بیاکه به مې هرڅومره خبرې په زړهٔ راورېدې ، د دې جراءت مې نهٔ لرلو چې ګنډلې خولهٔ پرانېزم . زهٔ ورو ورو لهٔ خپلې ګنډلې خولې سره عادت کېدم . ما به خپله خولهٔ تل ګنډلې وه . دا زما د پلار حکم و . ما دهغهٔ لهٔ حکم پرته خپله خولهٔ نهٔ شوه پرانېستلې . سره لهٔ دې چې پهٔ پېل کښې به زهٔ د خپلې خولې بندولو او ګنډلو غمجنولم ، خو ورو ورو ورسره عادت شوم . اوس به ما ډېرې خبرې نهٔ کولې . ډېرې پوښتنې به مې نهٔ کولې . ما د خپل پلار حکم نهٔ شو ماتولی . اوس به ما تل خپله خولهٔ ګنډلې او تړلې وه . د خبرو او پوښتنو پهٔ باب به کله کله ځهٔ سوچ پهٔ سر کښې راوګرځېد ، خو ما به هېڅکله خپل دغه فکر لهٔ خپله سره تر ژبې نهٔ راېستلو . ما به هغه کوله چې لهٔ دې وروسته ، خپل فکر هم وتړم ، ویې ګنډلم . هسې نه چې فکر مې د خولې د تړلو او ګنډلو هوډ رامات کړي . ماله دې وروسته هډاسې وکړل . غوښتل مې چې هېڅ نوی فکر پهٔ سر کښې رانهٔ غوټه نهٔ شي . هېڅ نوې پوښتنه راپېدا نهٔ شي . هېڅ یوه خبره پهٔ زړهٔ کښې راونهٔ ګرځي . زهٔ هډاسې شوم . زما هرڅهٔ وګنډل شول او ځکه خو به لهٔ دې وروسته پلار ما ته زیات

نهٔ پهٔ غصه کېږده.

زهٔ هداسې کښېنلې او ترلې راڅوړې شوم ، خو خدای خبر څنګه لهٔ دې ورووسته ما د خپل ایکې یوازېنې زوی پهٔ باب ځان ملامته ګڼلو. هغهٔ هم لهٔ ما نه څهٔ زده نهٔ کړل . اخر نو ما به څهٔ ور زده کړي وای ؟ زهٔ خو د خپل پلار لهٔ لاسه هداسې شوې وم . ما خپل زوی ته څهٔ ور زده کولې شول ؟ د ورځ هم نهٔ ده . یو څهٔ خو مې ور زده کړل . هغه څهٔ چې ما زده کړي وو ، هغه مې ټول ور زده کړل . ښهٔ مې ور زده کړل او هغه اوس لهٔ ما نه هم زما پهٔ کسب کښې تکړه او هوښیار و . هغه لا پوره زلمې شوی هم نهٔ و ، یو څهٔ خو راغوښتکی شوی و ، خو ځوانۍ ته یې لا ورځې پاتې وې . ما پر هغهٔ "وطن خان" نوم ایښې و . خدای خبر دا نوم زما څنګه خوښ شوی و ، چې پر خپل یوازېنې زوی مې کېښود . وطن خان پر ما لهٔ بل هر څه نه ګران و . اخر باید هم هداسې وای . هغه زما زوی و . د هغهٔ پهٔ رګونو کښې زما د رګونو وینه ګرځېدله ، راګرځېدله ، او بیا هغه زما پهٔ کار کښې زما یوازېنی مرستندوی و . زه چې به کله د خپل کار پهٔ لړ کښې پر هغهٔ پهٔ غصه شوم ، نو هغهٔ به حېران حېران راته وکتل او هېڅ به یې هم ونهٔ ویل . ما ته به یو ځل خپل پلار رایاد شو . خپل کوچنیتوب به رایاد شو او د غصې پهٔ وخت کښې به د هغهٔ د سترګو د غضب لمبې را د مخه شوې ، او ما به ځان

ته لاړې نو کړې . بیا به نو خپل زوی ته، "وطن خان" ته هېڅکله نهٔ پهٔ غصه کېدم . اخر پهٔ هغهٔ کښې د غصه کېدو څهٔ وو هم نه . هغهٔ خپل کار پهٔ ډېره بیړه او تکړه توب ترسره کاوهٔ.

"وطن خان" اوس د قبر پهٔ کېندلو کښې لهٔ ما نه هم تکړه وُ . دا زمونږ کسب وُ . زمونږ کاروبار وُ . قبر کېندل ما ته لهٔ خپله پلاره پاتې وو . هغه وخت د قبر کېندل ، دومره د سختئ کار هم نهٔ وُ . مونږ به چېرته پهٔ میاشت کښې کوم قبر کېندلو . زیاتره به مونږ یا کوچنیان خاورو ته سپارل ، هغه چې ډېر به کوچنیان وو او یا به موزاره او بوډا اګان . مونږ به هغه وخت قبرونه ډېر پهٔ مینه جوړول . زما پلار خو بالکل د دې کار استاذ وُ . کله به یې پهٔ یوهٔ قبر دومره کار کولو لکه چې خپل ځان ته کور جوړوي . قبر به یې داسې ښکلی جوړ کړ چې کله کله خو به زما زړهٔ وشو چې یوه شیبه پهٔ کښې پرېوځم. هغهٔ چې به قبر ښهٔ جوړ کړ نو یو شیبه به نور هم ورته ځیر شو . بیا به یې کار پهٔ کښې پیل کړ . یوه ښه شیبه نور به یې هم پهٔ قبر کښې کار وکړ او چې قبر به ښهٔ جوړ او ښکلی ورته ښکاره شو نو یو وار نسوار به یې خولې ته واچول او د قبر یوې او بلې خوا ته به تاو راتاو شو . خود هغهٔ لاس بیا هم نهٔ درېدلو. تر هغهٔ چې به یې جنازه هدیرې ته راوړله ، نو دی به د قبر پهٔ لا ښکلي کولو او جوړولــــو اخته و .

هغه وخت به د قبر پرسر دومره ویر نهٔ و . یا به کوم بوډا او بوډۍ مړهٔ شوي وو ، چې خپل عمر به یې خوړلی و او یا به څهٔ داسې کوچنیان مړهٔ وو ، چې کورنۍ به یې هم ویر نهٔ پرې کاوهٔ . هغه وخت مرګ یو غمګین پړیتم و . د قبر جوړول او د مړي خاورو ته سپارل یو پړیتم و . ځانګړي مراسم یې لرل . ترڅو میاشتو به د مړي کور ته خلک د تسلیت لهٔ پاره تلل . تر یو کال پسې به د مرګ دغه پړیتم پر هغهٔ کور پرېوتی و . مړي عجب درښنیت لرلو .

خو اوس ؟ اوس خبره داسې نهٔ وه . هسې خو زموږ د کسب ، زموږ د کاروبار بازار ښهٔ تود و . خو هغه پخوانی مزه یې نهٔ وه پاتې . اوس مو ستړیا ډېره زیاته شوې وه . اوس دا کار یوازې اصلي کسبیانو ته هم نهٔ و پاتې . اوس د هر کسب او کار والا قبرکېندونکي شوي وو . په خپل کسب او کار پسې نهٔ ګرځېدل ، په پیسو پسې ګرځېدل ، د خپلې کښې په تود بازار پسې ګرځېدل . پخوا ما خپل زوی دې کار ته لهٔ ځانه سره نهٔ راوست ، خو اوس کار ډېر زیات شوی و . یوه ورځ مې هغهٔ ته وویل :

— وطن خانه ! لهٔ دې وروسته به پهٔ کښه ځو .

د هغه زړهٔ خو چندان نهٔ ورته کېدهٔ ، خو زما خبره یې زړګي ته نهٔ شوه غورځولی . ویې منل او لهٔ دې وروسته به لهٔ ما سره د قبرونو کېندلو او جوړولو ته راته . پهٔ لږ وخت

کښنې یې د قبرکښندل او جوړول زده کړل. اخر د قبر کښندل او
جوړول هم څهٔ اسان کار نهٔ دی. دا کار ځان ته لاري چاري غواړي.
دا کار هم مهارت غواړي. اخر یو کار دی کنه ؟ او وطن خان
دا کار ډیر زر زده کړ. دا مهارت یې ډیر زر پیدا کړ.
اوس موږ ټول قبرونه د چا په سپارښتنه او فرمایښت نهٔ
جوړول. زیاتره به قبر کوم ځانګړي مړي ته نهٔ جوړیده. کله
کله به داسې کیدل. کوم ډیر معتبر سړی ته به ځانګړی قبر
جوړیدهٔ. نور نو زموږ د کسب ډول بدل شوی و. موږ به
ټوله ورځ، د ماښام تر ځړې پورې قبرونه جوړول، خو دا قبرونه
به د چا په نامهٔ نهٔ وو. موږ چې به هرڅومره قبرونه کښندل
هغه به بیا تر مازیګره خلاص شوي وو او د قبرونو وازې خولې
به پهٔ خاورو ډکې شوې وې. زموږ د کار و بار بازار لهٔ یوې
ورځې نه بلې ورځې ته مخ پهٔ ګرمیدو و. زهٔ او وطن خان دواړه
به ټوله ورځ د قبر پهٔ کښندلو ستړي ستومانه شولو او چې ماښام
به کور ته لاړلو نو ځانونه به مو لا خپلو کټونو ته نهٔ وو رسولي
چې بیا به خوب وړي وو. موږ اوس چندانې ارام خوب هم نهٔ
درلود. پهٔ خوب کښې به مو هم هډیرې لیدلې. قبرونه به مو
لیدل. مړي به مو لیدل. شنې، سپینې او سرې جنډې به مو
ستر کو ته کیدې. پر ما خو لهٔ ډیرې مودې راهیسې څهٔ داسې
کانه شوې وه. خو لا خبر نهٔ وم چې زوی مې هم هډاسې دی.
یوه ورځ چې هغه د کوم قبر کښندلو ډیر ستړی کړی و، راته

بیې وویل :

ـ پلاره ! د ورځې خو د قبرونو کیندل زموږ ملا راماته کړي او د شپې ترې په خوب کښې هم نه خلاصیږو .

ما ترې په حیرانۍ وپوښتل :

ـ څنګه بچو ؟

هغه په شهرلو الفاظو وویل :

بس خو نو . . . پلاره ! زه د شپې ټوله شپه هدیرې او قبرونه وینم . هر یو مړی یې جلا جلا خبرې راسره کوي . دوی خو عجیبه مړي دي .

او چې ما ته خپل زوی وطن خان دا خبره وکړه ، نو پوه شوم چې په دواړو یوه کانه شوې ده . ما ته مې یو ځل بیا خپل پلار رایاد شو او د خپل کوچنیتوب د دوران پېښې مې تنې تنې په ذهن کښې راڅرېندې شوې . یو وخت چې ما هم نوې له خپل پلار سره قبرکیندنه پیل کړې وه ، نو یوه شپه مې په خوب کښې ولیدل چې زه او پلار مې د واړه په ډېر سخت کار اخته یو . پرله پسې قبرونه جوړوو . خو زما پلار دا ځل عجیبه کار کوي . کله چې به یې قبر جوړ کړ نو که قبر به لوی او پراخ و ، نو یو ځل به په خپله په قبر کښې وغځېد او چې د ده په طبیعت به جوړ راغی نو یوې بریالۍ موسکا به یې ځان په شونډو کښې راڅرګند کړ . او که قبر به کوچنی و نو د قبر له چمتو کولو وروسته به یې ما ته په قبر کښې د غځېدلو حکم وکړ . زه به په قبر کښې وغځېدلم . هغه

به د قبر اندازه ځان ته معلومه کړه . بیا به یې ماته وویل :

ــ پوره نه شه خنځیره !

اوزه به په بیړه له قبره راپورته شوم . سبا یو څوک مړ شوی و . موږ د قبر کیندلو ته لاړو . موږ چې کله په هدیره کښې کار پیل کړ نو زما یو ځل په زړه کښې راوګرځېدل چې راشه د خپل بېګانې خوب کیسه خپل پلار ته وکړه . ما چې خبرې ته خوله جوړوله نو ببرته مې راایساره کړه . ما ویل هسې نه چې هغه په غصه شي . زه ترلې او ګنګولی وم . دا زما د پلار حکم و : خو کله چې ما ته خپل "وطن خان" د خپلو خوبونو په باب وویل ، نو ما هغه ته په کراره ځواب ورکړ :

ــ څوک چې قبرونه جوړوي ، هغوی همداسې وي بچو.. همداسې . . . .

او زما په شونډو کښې ورو ، ورو بیا هم زمزمه شوه :

ــ څوک چې قبرونه جوړوي . . . څوک چې قبرونه جوړوي . . . .

ما ولیدل ، ما واورېدل چې د هغه په شونډو کښې هم دغه خبرې تکرار شوې :

ــ څوک چې قبرونه جوړوي . . . څوک چې قبرونه جوړوي . . . .

او له دې وروسته ما او "وطن خان" د خپلو خوبونو په باب هم کله کله یو بل ته کیسې کولې . موږ دواړو به د

هدیرې او کوړ او د کوړ او هدیرې تر منځ لاره زیاتره د هغو خوبونو په بیانولو لنډوله .

د مړو خاورو ته سپارل اوس له زیات ویر څخه ډک شوي وو . اوس به موږ زیاتره ځلمي خاورو ته سپارل. اوس به له مړي سره کله په یو جلا موټر کښې هدیرې ته ښځې هم راتللې . ژړاګانې او ویرونه به وو ، چغې به وې ، کریکې به وې او د جامو څیرل او د وېښتانو شکول به وو . خو زموږ له پاره اوس دا ټول شیان عادي شوي وو . اوس موږ د ورځې زیات ځوانان خاورو ته سپارل . د ډېرو کورنیو ، د ډېرو سرتورو د ډېرو میراټو او د ډېرو یتیمانو ژړاوې او فریادونه موږ اورېدل ، خو موږ ته دا کار اوس د ورځې یو ډېر عادي کار ښکاره کېده . د ورځې په کومه شیبه کښې چې به هدیره سره وه ، نو موږ به حیران وو ، چې دا نن څه چل شوی دی ؟ خو زموږ دغه حیرانتیا به له څو شیبو څخه نه زیاتېده. ډېر ژر به هدیره ډکه شوه او پر یوه بل انسان ، پر یوه بل قبر به خاورې وارولې شوې .

یوه ورځ هدیره تر ډېره پورې سره پرته وه . ښه ډېره شیبه وروسته خلک راښکاره شول . یو مړی یې راووړ . له مړي سره ډېره ګڼه ګوڼه وه ، په یوه جلا موټر کښې ښځې هم ورسره وې ، ژړاګانې وې ، ویرونه وو ، او ټوله هدیره چغو او فریادونو نیولې وه . کوم ځلمی وژل شوی و . له

وادهٔ یوه اونۍ وروسته وټل شوی و. ناوې یې هم هدیرې

ته راغلې وه. د هغې کریکو ټوله هدیره په سر اخیستې وه.

د هغې فریادونو زړونه څیرول. د ځلمي مور هم هداسې وه

او خوېندې یې هم. ټوله هدیره یې په سر اخیستې وه، خو

د ناوې غږونه، د ناوې فریادونه په کښې له ټولو څخه څرګند

او زړهٔ څیرونکي وو.

په هدغو چیغو او فریادونو کښې ځلمی خاورو ته وسپارل

شو. دعا وشوه او بیا یو څوک پورته شو چې څهٔ خبرې

وکړي. خبرې یې پیل کړې. خدای خبر چې څهٔ څهٔ یې وویل.

ما یه تل د قبر پر سر          خبرو ته غوږ نهٔ ایښود.

زهٔ بیوازې د خپلو فکرونو په غم کښې وم، خو د غهٔ ځوان

دغهٔ مرګ، دغو فریادونو او دغو چیغو زړهٔ وار پار خطا

کړی و.. کله به مې قبر ته نظر شو، کله به مې شا او خوا

خلکو ته او کله به مې ناوې ته حیران حیران ور وکتل. هغه

چې د قبر سر ته ولاړ و او څهٔ خبرې یې کولې، یو ځل یې

خپل غږ نور هم اوچت کړ، خو زهٔ د هغهٔ په خبرو هیڅ نهٔ

پوهېدم. حیران وم چې دی څهٔ وایي؟ خو عجیبه پېښه وشوه.

ناوې ورمنډه کړه او هغه چې په لوړ اواز یې خبرې کولې له

ګرېوانه راونیو، خو نورې خبرې یې ورکړې، خلک ترې راتاو

شول، هغه یې ونیوله خو هغې خپل ځان ترې خلاص کړ

او بیا د ځلمي پر قبر ورپرېوته. خلک ټول حیران وو.

چیغې او فریادونه د یوې شیبې له پاره غلي شول. د ټولو سترګې په ناوې کښې ورښخې شوې. خبرې نیمګړې پاتې شوې. دعاګانې نیمګړې پاتې شوې او بیا په هدیره کښې خلک خواره واره شول.

له هغې ورځې ورو وسته زما زوړ سوګند وخوړ چې زه به نور له تا سره هدیرې ته لاړ نه شم. ما هغه ډېر پوه کړ، ډېر مې ورته وویل، خو هغه یو ځل سوګند کړی و چې نور به قبرونه جوړ نه کړم. هغه بیا له ما سره د قبرونو کیندلو ته لاړ نه شو. زه پر هغه غصه شوم، خو زما غصې هم هیڅ کار ونه کړ، اخر هغه ما سخت وواهه او بیا هغه زما له کوره لاړ. له خپل ماما کره لاړ، او په دې توګه زه بیا د قبر کیندلو او جوړولو ته یوازې پاتې شوم. وطن خان بیا خپل کور ته رانه غی. زه هم پر هغه غصه وم او هغه هم نور د قبرونو له کیندلو او جوړولو سوګند خوړلی و. ما بیا هم د قبرونو کیندلو ته دوام ورکړ، خو اوس د قبرونو او مړګونو دومره پېښنو، چیغو او فریادونو زما د کار مزه هم وړې وه. اوس "وطن خان" هم له ما سره نه و. ما له نورو کسانو سره یوځای کار کاوه. خو ما له خپل کار څخه هیڅ خوند نه اخیست. بل هیڅ کار مې نه و زده، که نه نو اوس به ما هیڅکله خپل ځان د قبرونو په کیندلو او جوړولو نه ساته. خو زما یوازې یو کار زده و، یوازې د قبرونو جوړېدل. اوس موږ قبرونه په مینه نه جوړول، ډېر وخت مو نه پرې تېراوه. هسې

به مو زمکه وکښله . د لحد له پاره به مو هم يو څه زمکه په قبر کښې وکښله او بيا به مو مړی په کښې ښخ کړ . اوس د مړي په ښخيدلو کښې هغه پخوانی پرتم نه و پاتې . په بيړه بيړه به خاوري پرې وروارولې شوې او بيا به څو کسانو د قبر پر سر خبرې کولې . د قبر پر سر چې به چا خبرې کولې نو راغليو کسانو به بد بد ورته کتل . زما به هم د خبرو والا بدي شولې . زما به هغه د خبرو له والا څخه د ومره بدي راتلل لکه چې دا مړی هم ده کړی وي . خدای خبر ولې زما د ډيرو خبرو له کوونکو څخه کرکه کيدله . ورو ورو مې د غه کرکه زياتيدله او اوس چې به کله خبرې پيل شوې نو زه به د يوې شيبې له پاره د هديرې بلې څنډې ته لاړم ، خو هلته به د بل قبر پر سر خبرې وې او زه به مجبور شوم چې د څه ډيرې شيبې له پاره د هديرې په يوه او بله برخه کښې سرګردانه وګرځم . اخر مې له خپل ديې کار څخه هم کرکه راغله . دا کار مې پريښود . بيا به د قبر له څنګه لېرې نه تللم . خو خبرو ته مې بيا هم غوږ نه ايښود . يوه ورځ خو مې په ناخبره توګه په غوږونو کښې ګوتې ايښې وې . ما ويل چې د چا چيغې او فريادونه وانه ورم . ما ويل چې د چا خبرې وانه ورم . ما ته ډيره شيبه خپلې ګوتې په غوږونو کښې ايښې وې . اخر زما څنګ ته يو څوک ولاړ و ، هغه وخوځولم ، لکه له خوبه چې مې راپورته کوي . هغه حيران حيران راوکتل او په تعجب

يې راڅخه د سر په اشاره څه وپوښتل. زما ځان ته پام شو او بيا ما د ډېر ژر خپل لاسونه له خپلو غوږونو را لېرې کړل. او س ما خبرې اورېدلی شوې، خو نه پوهېدلم چې څه ویل کېږي. کله کله چې به خبرې زياتې شولې نو زما په زړه کښې به د پلار هغه خبره رايادېده شوله چې د غصې په وخت کښې به يې ماته کوله:

ـ خوله دې کنډه ... که درو يې کنډم ؟ ...

او زما په شوېنډو کښې به هغه جمله راڅرګندې شوه:

ـ خوله دې کنډه ... که درو يې کنډم ؟ ...

خو زما دغه خبره به دوهره ورو په شوېنډو کښې راڅرګندې شوې وه، چې زما په څنګ کښې ولاړو کسانو به هم وانه ورېدلی شوه. اخر زه نړل شوی وم. زه کنډل شوی وم. دا زما د پلار حکم و.

نن څه عجيبه پېښه وشوله. يوه داسې پېښه چې ما يې تصور هم نه و کړی. زما په زړه کښې کله هم داسې نه وه راغلي. ما هېڅکله هم داسې فکر نه و کړی چې کونګی زه به په خپلو ګوتو خپل "وطن خان" ته قبر جوړوم. ما يوځل په ډېره مينه خپل پلار ته قبر کښندلی او جوړ کړی و. هغه ماته ويلي وو چې:

ـ بچيه! ښه قبر به راته جوړوې. زما د ټول عمر کور به ښه راجوړوې. هسې نه چې له سره يې تېر کړې. زما

غوښتې قبرونه، لکه زهٔ چې یې جوړوم.

او کله چې زما پلار مړ شو نو ما یې پر قبر ډېره خوارۍ وکړه. د هغهٔ لهٔ وصیت سره سم مې د هغهٔ قبر ډېر ښکلی جوړ کړ. او لهٔ هغې پېښې ډېر کلونه وروسته ما خپل "وطن خان" ته هم پهٔ خبرو خبرو کښې هسې یادونه کړې وه:

- بچیه ! زما قبر به ښکلی را جوړوې، لکه ما چې خپل پلار ته جوړ کړی و. هغهٔ پهٔ هغهٔ وخت کښې زما د دې خبرې هیڅ ځواب نهٔ و راکړې او ځان یې پهٔ بل څهٔ کار بوخت کړې و. خو زما پهٔ نصیب کښې به دا لیکل شوي وو، چې زهٔ به پهٔ ځوانۍ کښې د خپل پلار قبر پهٔ خپلو لاسونو جوړوم او پهٔ بوډاتوب کښې به د خپل ځلمي زوی. نن هم داسې وشول. نن هم دا څو شیبې وړاندې ما خپل وطن خان ته هم قبر جوړ کړ او هغه مې خاورو ته وسپارهٔ. کهٔ زما خبرې څهٔ بې مزې وې، کهٔ زما پهٔ خبرو کښې زما د سلګو اواز واورئ نو خوا مو مهٔ بدوئ، اخر ما خپل یوازېنی زوی هم نن خاورو لاندې کړ. اوس نو ما ته هېڅوک راپاتې نهٔ شول، لهٔ هر څهٔ نه خلاص شوم.

زهٔ پهٔ هدیره کښې وم، قبرونه مې جوړول. ما ته څوک راغی او د "وطن خان" د مرګ غږ یې راباندې وکړ. زهٔ پهٔ ځان پوه نهٔ شوم. یو وخت را پهٔ خود شوم، خپل کور

ته لاړ نهٔ شوم . سمدلاسه مې د قبر په کېندلو پيل وکړ.
ما خپل "وطن خان" ته څهٔ داسې قبر جوړول غوښتل چې تر اوسه
هېچا ته داسې قبر نهٔ وي جوړ شوي . ما پهٔ قبر ډېر
وخت تېر کړ . لکه هغهٔ ته چې د وادهٔ کوټه جوړوم. هغه
هديرې ته راوړل شو او ما پهٔ خپلو لاسونو هغه تر خاورو
لاندې کړ ، د هغهٔ لهٔ وجود نه لا اوس هم تازه وينه وړه وړه
راتلله ، هغه مې پهٔ ډېر احتياط پهٔ قبر کښې کېښود . قبر
يې بېخي برابر و ، لکه چې لومړي مې هغه پهٔ کښې غځولی
او بيا مې قبر ورته جوړ کړی وي . دومره خو بايد هم
وای ، اخر دا زما د عمر کسب و . "وطن خان" تر خاورو
لاندې شو . د خاورو ډېرې پرې جوړه شوه او دغه ډېرۍ
هم ما ډېره ښکلې جوړه کړه . دعا وشوه ، وعظ وشو او
بيا يو چا خبرې پيل کړې . زما د زړهٔ درزا زياته شوه . خبرې
هغه داسې اوږدېدلې . ډېرې زياتې اوږدې شوې . او زما
د زړهٔ درزا نوره هم زياته شوه . زما لهٔ سترګو د اوښکو
دارې راروانې شوې . عجيبه پېښه وشوه . زهٔ هيڅ پر ځان
پوه نهٔ شوم ، سر رابانددې درونند شو ، ما غوښتل چې
لهٔ خپل ځان څخه د ګنډلو او تړلو ټولې غوټې او بخيې
راخلاصې کړم . پهٔ بېړه يې راوسپړم . د زړهٔ درزا مې داسې
حد ته ورسېدله لکه لهٔ سينې څخه چې بوټ راوځي ، او بيا
ما يوه منډه کړه ، يوه چيغه مې لهٔ خولې ووتله ، هغه ځوګ

چې پر قبر يې خبرې کولې ، د هغهٔ خوا ته مې ورمنډه کړه او چې زهٔ بيا پر ځان پوهېدلم نو هغه مې لهٔ مړي نيولې او د "وطن خان" د قبر تر څنګه مې غورځولې و .

زهٔ پر ځان نهٔ پوهېدلم . زما "وطن خان" مړ و . ما يو ځل بيا شا او خوا ته وکتل . هېڅوک هم نهٔ را ته ښکاره کېدل. لکه چې هېڅوک هم نهٔ وي . لکه چې ټول کسان لهٔ هديرې تللي وي .

لکه چې ما ټول "وطن" خاورو ته سپارلې وي .

کابل

۱۳۶۷، ۸، ۵

ترومی

هغه سخت درد را پهٔ مخه کړي وه . نور یې نو د درد توان

نهٔ لاره . ډېر ځلې یې خپل سرته پر بالښت باندي ، خوله ولګوله .

بریستنه یې پر غابنونو زور کړه خو طاقت یې ونهٔ شو ، بیا

یې پر خپلو لاسونو خولهٔ ښخه کړه او بیا یې هم د درد هیڅ

تسکین ونهٔ شو . تاو را تاو شوه . پهٔ ټوله کوټه کښې تاو

را تاو شوه ، ښځي یوازې وه . سکمونه یې پهٔ فریادونو بدل

شول او بیا لاړه خپله مور یې لهٔ خوبه راویښه کړله . مور یې

پهٔ حېرانتیا لهٔ خوبه راویښه شوله او چې کله یې د خپلې لور

سکمونه او فریادونه واورېدل نو پوه شوله چې څهٔ خبره

ده . له سترګو یې د اوښکو څو څاڅکي راتوی شول او پرته

لهٔ دې چې د لور یې ورته پام شوی وي ، هغه یې پټ شانته

د خپل پروني په پيخکه پاکې کړې او اوچته له ځايه راجګه شوه.

لور يې له يوې شيبې څخه بلې ته خپل فريادونه لا زياتول.

پر ځان به يې ډېر زور راوړ خو هيڅ چاره يې نه کېدله. د

ملا او کېدې درد يې له حده زيات شوی و. مور يې، د

هغې په ګېډه او ملا لاسونه کش راکش کړل. څه بنځينه

توټکې موټکې يې پرې وکړلې خو د هغې درد نور هم زيات

شو. مور يې ورته وويل:

- بچې خدای به خبر کړي.

خو د هغې دردونه يو په بل پسې داسې راګرځېدل شوي

وو، چې هغې نور خپل فريادونه نه شول بندولی. اخر

درد هم يو حد لري او هرڅه چې له هغه خپله حده واوړي

نو بيا خو بې له چغو فريادونو او عصيانونو، هيڅ نه

شي کېدلی. اخر هغې چې اوس فرياد نه کاوه، نو کله

به يې کاوه؟

تروږمۍ خپل فريادونه نور هم اوچت کړل. کله به

يې د کټ په بازوګانو پورې ځان کلک کړ او کله به يې د

دروازې درشاۍ ته ځان ورجوخت کړ. ورپورې به وښتله

چې څومره زور به پکښې و، هغومره زور به يې پرې راووړه

خو د دردونو کمی نه و. د يو تنګ واټ د بل راتنګ. تروږمۍ

لا په هغو دردونو، سکمونو او فريادونو کښې وه، چې بوډۍ

مور يې خپل لوی پړونی راواخيست، له ځانه يې راتاو

کړ او لور ته یې ورو شان وویل:

— ترورېزمې بچې ، د رڅه چې ځو .

هغه پوه شوه چې مور یې څه ورته وايي . هغه د چېرته تګ په مانا پوهېدله . لا پخوا یې مور او دې سلا مشوره کړې وې . مور یې هغې ته ویلي وو چې بچی کله دردونه دې ډېر زیات وو او کله بیا ډېره په تکلیف شوې نو روغتون ته به ځو . مور ته یې خو ګاونډیو ښځو لا له پخوا نه ویلي وو چې دا یې لومړی ځل دی او خامخا به یې روغتون ته رسوي . له درد سره سم به یې هلته رسوي .

مور او لور دواړه روان شول ، تیاره وه ، ترورېزمې وه ، شپه وه ، او دوی دواړه په تنګو کوڅو کښې د لوی سرک لاره ونیوله . لور یې په ډېره سختۍ په لاره روانه وه . کله به د درد یوې سختې څپې له تګه پاتې کړله . یوه لنډه شیبه به کېناستله او بیا به خپلې بوډۍ مور له لاسه ونیوله او بیا به یې له ځان سره په ځنګ کښې روانه کړله . لارې ډېرې چکړې وې ، اوبه وې ، خټې وې او د دوی کلوشې به کله کله په خټو کښې ترې پاتې شوې او بیا به یې په تیاره کښې د خپلو کلوشو لټون کاوه . په تګ کښې د هغې درد یو څه بند شوی و ، خو چې خپلې ګېډې ته چې به یې وکتل نو خدای خبر چې څه وېره به ورته پیدا شوه او بیا به له هغې وېرې سره د درد یوې بلې زورورې څپې پرځای کېنوله . عمومي سرک ته

په ډېره سختۍ ورسېدل . او بیا بنه ډېره شیبه د موټر په انتظار کښې پاتې شول . هېڅوک نهٔ پیدا کېدهٔ او اخر چې خدای د کومې ګړمې موټر پرې ورپېښ کړ ، نو دوی یې له ځانه سره ځګ کړل . د ننه په موټر کښې نو تروږمۍ ټول درد وېنه پر ځان وزغمل او له خولې یې هېڅ فریاد راپورته نهٔ شو . کله به د درد څپو داسې په مخه واخېستله چې هېڅ طاقت به یې وېنهٔ شو . پر خپل ځان به یې خولهٔ ولګوله او د یو څهٔ سکم غږ به یې واورېدی شو . د درد د زغملو درد ، هغه ډېره ناراحته کړې وه . له ډېره درده یې اوښکې راروانې وې ، خو چې مور به په سترګو سترګو کښې څهٔ ورته وویل ، دې به د درد زغمل نور هم څوچنده کړل .

تروږمۍ چې د زېږنتون مخې ته له موټره کوزه شوه نو په زړهٔ کښې یې یو "شکر" وکړ او بیا هغه خپلې مور لهٔ لاسه ونیوله او د زېږنتون د زېږېدلو کوټې ته یې ورننوېستله . د تروږمۍ مور یې یوازې تر دروازې ورسره پرېښوده او بیا نو تروږمۍ یوازې ورننوتله .

په زېږنتون کښې ګڼه ګوڼه وه . د زېږنتون مخې ته هم زیاته ګڼه ګوڼه وه . ټول نویو زېږېدنو ته سترګې په لاره وو . د زېږېدو په ستره خونه کښې څو نرسانې په بېړه بېړه یو بل خوا ته تلې او راتلې . فریاد وېنه وو ، چیغې وې او د نویو ماشومانو ژړا ، تنکۍ ژړا وې وې . د مېندو د درد وېنو کړیکو

او چیغو، د نویو زېږېدلو ماشومانو لهٔ تنکیو ژړاو سره د زېږېدو د سترې کوټې فضا ته ځهٔ عجیبه بڼه ورکړې وه. کله چې تروږمۍ دې خونې ته ورننوتله نو وارخطا غونډې شوله. نورې ښځو هم چیغې وهلې. د یوې فریادونه به لهٔ بلې لا زیات سخت وو او چې یوې به کرېکه کړه نو نورو به هم خپلې کریکې لهٔ هغې لوړې. ښځې زیاتې جګې کړلې او بیا نو د تروږمۍ چیغې لهٔ هغو نورو ښځو سره ګډې شوې.

د تروږمۍ لهٔ ورننوتلو سره سم یوه نرسه دې ته ورنژدې شوه. ځهٔ کاغذونه یې پهٔ لاس کښې وو. قلم هم ورسره و. غوښتل یې چې ځهٔ ولیکي. لهٔ تروږمۍ یې وپوښتل:

- نوم دې ځهٔ دی؟

او تروږمۍ لکه چې دا خبره هیڅ اورېدلې هم نهٔ وي. پر هغې د درد داسې څپې راروانې وې چې د هغې غوږونه یې هم دړانهٔ کړي وو. نرسې دا ځل پهٔ غصه ترې وپوښتل:

تا ته وایم، نوم دې ځهٔ دی؟

دې ورو شان ورته وویل:

- تروږمۍ.

او د تروږمۍ د نوم لهٔ اورېدلو سره، نرسه حېرانه شوله. یوې خوا او بلې خوا ته یې وکتل او لکه چې پر خپلو غوږونو یې باور نهٔ شوې شانته وي، د پوښتنې پهٔ ډول یې ورته وویل:

- ځهٔ... ځهٔ... تروږمۍ دې نوم دی؟

او په ترورېمه د درد یوه بله داسې زوروره څپه راغلې وه چې د خبرو پرځای یې د درد له زغم سره یوځای هغې ته یوازې څپل سر وخوځولو.

د نرسې مخ تک سور شو. په یوه کاغذ کېښې یې څه ولیکل او په ځنګ کېښې بلې نرسې ته یې په تعجب وویل:

ـ دا هم ترورېمه ده! ترورېمه یې نوم دی.

بیا هغه بلې نرسې ترې د پلار د نوم پوښتنه او څه نورې لازمې پوښتنې وکړلې او هغه هم په تعجب سره له کوټې ووتله.

اوس نو د زېږېدلو په ستره کوټه کېښې یوڅو تنه ښځې پاتې وې. ټولو باید په پرله پسې توګه خپل ماشومان زېږولی وای. ټولې د درد ونو په سر اخیستې وې او بیا نو دوې ټوله کوټه پر خپلو فریادونو پر سر اخیستې وه. یوه ډاکټره کوټې ته راننوته او د کومې ناروغې نوم یې په زوره واخیست:

ـ ترورېمه!

او په کوټه کېښې پنځه شپږ واړو ښځو ورغږ کړ:

ـ زه یم!

ـ ترورېمه زما نوم دی!

ـ څه خبره ده؟

ـ بلې!

او ډاکټره هم حیرانه پاتې شو. عجیبه خبره وه. ټولې "ترورېمه" وې. ډاکټره ته له خپل د غه تعجب سره سره

خندا هم ورغله او بيا چې يې د پلار نوم واخيست نو هاغه خپل ناروغ يې پيدا كړې شو .

د يوې ښځې فرياد ښځي زيات شوى و . د هغې د ماشوم د زېږېدو وخت و . فرياد ونه يې اوچت كړل . پر يوهٔ كټ يې څملولې او بيا د ښځې لهٔ فرياد ونو سره سم د ماشوم تنكى ژړا هم واورېدلې شوه . ماشوم هلك و ، او چې كله به هلك پيدا شو نو د كوټې د نوكريوالو نرسانو او خدمو پر شونډو به هم موسكا خپره شوه . د دغه ماشوم پهٔ پيدا كېدلو هم پهٔ كوټه كښې شور جوړ شو . نرسانو او خدمو چيغې كړې :

- مبارك ، مبارك !

- هلك دى مبارك دې وي .

- هلك دى ، زېرى مې درباندې .

او يوې خدمې خو منډه كړه ، بهر ووتله . غوښتل يې چې هلته هم پهٔ بهر كښې منتظرو كسانو ته زېرى ورسوي او خپلهٔ "زېرى" ترلاسه هم كړي . خو عجيبه وه . د نوي زېږېدلي هلك خپله مور د بره شيبه چپ وه . يوې خدمې ورغږ كړ :

- هلك دى ، مبارك دې وي ، لهٔ زېري سره !

او چې هغې ښځې څنګه دا خبره واورېدله نو يو ځل يې ژړا پيل كړه . لومړى يې ورو ورو ژړا كوله او بيا نو د ژړا غږ هداسې ورپسې اوچتېده . پهٔ سلګو سلګو يې ژړل او د اوښكو يو رود ترې راروان و . هلك ته يې چې د كوټې نرسې پهٔ

لاس کښې و، بد بد وکتل او بیا یې ژړا ته زور ورکړ. په کوټه کښې له ټولو ښځو څخه خپل دردونه هېر شول او په دغه ښځه ورغونډې شولې. نرسانې او خدمې هم ترې تاوې شولې او د پوښتنو یو بهیر پیل شو:

-اخر دا ولې؟

-پرهلک هم چا ژړلي دي؟

-ښه و چې خدای خلاصه کړې ... ماشوم هم هلک دی؟

-ولې په څه؟

او د پوښتنو دغه بهیر لا روان و چې په ځنګ کښې یوې نوې راننوتې بوډۍ شان ښځې وویل:

-تروږمه یې څه نه ژاړي. ماشوم یې یې پلاره دی!

هغه یوه شیبه چپ شوه. ټولو ښځو خپل دردونه هېر کړي وو. نرسانې هم په تعجب کښې وې. هغې بیا ورو شان وویل:

-دوه شپې مخکښې هغه کونډه شوه.

او له دې خبرې سره سم، ټولو ولادت ته نژدې ښځو چیغې کړې. ټولو خپلو پرېسېدلو ګېډو ته بد بد وکتل او ژړلو یې اوچتې کړې. ټولې په درز پرځای کېناستې او هرې یوې به غږ کاوه:

-یوه میاشت مخکښې زما هغه هم په ویښو ککړ...

-یوه اونۍ مخکښې...

ـ دوه شپې مخکښې . . . .

ـ درې میاشتې مخکښې په یوه شومه دم کښې . . . .

او فریاد وینه یو له بله اوچتېدل . نرسان او داکتران حیران شول . تول په بیړه له کوټې ووتل او بیا په لږه شیبه کښې د پاڼې بنځو دکې ګېلاړې تشې شوې وې .

کابل

۱۰، ۱۱، ۱۳٦۷

# نمونۂ کلام

هغهٔ ته د خپلې کلا نږې دروازې لهٔ بل هر څهٔ گرانه وه. هغه چې به لهٔ خپلې زړې کلا څخه هرڅومره لرې لاړ، نو ټول حواس به يې لهٔ هغې زړې کلا، لهٔ هغې زړې دروازې او لهٔ هغو سترو او زړو دېوالونو او برجونو سره وو. او کله چې به هغه لهٔ نږدې يا لېرې ځايه بېرته هغې کلا ته رانږدې کېدهٔ، نو لکه د کلونو مساپر چې بېرته خپلې مينې ته راګرځي، هغومره به بيړې اخيستې و. کله چې به راورسېد نو پهٔ دروازه کښې به بښه شيبه ودرېد، لکۍ به يې وخوځوله او لکه چې غواړي دروازې ته ورغاړې وځي، داسې به ترې تاوېدهٔ راتاوېدهٔ. خبره د کلا پهٔ باب ده. د هغې زړې کلا پهٔ باب. دا کلا د کلي بر سر ته پرته وه. شاوخوا

ته يې پېژني وو . شنې زمکې وې ، کروندې وې او بيا يو څه اخوا ترې نورې کلاوې وې او نورې کروندې .

دا يوه ډېره لويه کلا وه . سپين ږيرو به کيسه کوله چې دا کلا يې ډېره سخته جوړه کړې وه ، په ټول کلي کښې يې له نورو کلاکانو څخه توپير لاره ، برجونه يې له نورو ټولو کلاو لوي او جګ وو او د ديوالونه يې له نورو ټولو کلاو لوړ او سوړ وو . سپين ږيرو به ويل چې د دې کلا د جوړېدلو په وخت کښې به د خښتې د جوړېدلو کار د انسانانو له حوصلې هم بهر شو او له څو قلبه يي غواپانو څخه به ګټه اخيستله کېده ، قلبه يي غواپان چې په لمده شوې خټه کښې ننه وګرځول شول نو ايله بيله به خټه پخسې ته جوړه شوه او بيا به نو خټګران او مزدوران ترې راچاپېر شول او په څو شيبو کښې به بيا دغه خټه د ديوالونو سرونو ته جګه شوې وه او بيا به نوره خټه تيارېدله . دا کلا هداسې په سختۍ جوړه شوې وه ، خو له سختۍ سره سره ډېره په راستۍ هم جوړه شوې وه .
د ادم کاکا خپل زامن او ورېرونه هم دومره وو چې له خټګرانو او مزدورانو سره به يوځای شول ، نو لښکر به ترې جوړېده او بيا هدغه لښکر دا کلا جوړه کړه . تراوسه په دې کلي کښې د ادم کاکا اولاده پرته وه ، نمسيان ، کړوسيان او کوديان . عجيبه وه د دغو ټولو نسلونو استازې په دې کلا کښې وو ، زامن خو يې ټول له نړۍ تللي وو ، له نمسيو ، کړوسيو او کوديو يې لښکرې

جوړې شوې وې او ټول په هندې کلاکښې پراته وه . زړې سترې کلا دوی ټول په خپله غېږه کښې نيولي وو ، ټول يې يوځای سره ساتلي وو .

دې سترې کلا يوازې يوه حجره لرله ، داسې کلاوې زياتره يوه حجره لري او دا حجره د کلا د ټولو استوګنو د يووالي نخښه وي . د ادم کاکا د کلا حجره هم د هغه د نمسيانو ، کړوسيانو او کوديانو د يووالي نخښه وه . د حجرې سهيلي اړخ ته لويه کوټه جوړه شوې وه . دا کوټه دومره ستره وه چې که د ننه به ورننوتې نو د يو لوی ميدان ګومان به دې پرې راغی . په منځ کښې يې څلور سترې ستنې ولاړې او ګرچاپېره يې کټونه پراته وو . په کټونو کښې لوی لوی بالښتونه اېښودل شوي وو . په دې کوټه کښې له شلو څخه زيات کټونه ځايېدل . په منځ کښې يې نغری جوړ شوی و او دومره لوی نغری و ، چې د کټونو په شمېر کسان به ترې ګرچاپېره ځايېدلی شول . ټولو به ترې پښې راتاو کړې او د ژمي اوږدې شپې به يې په خبرو ، کيسو او ټوکو ټکالو تېرولې ، او کله چې به ځوانان په دې حجره کښې يوازې شول نو بيا خو به له منګي څخه رباب جوړ شوی و ، رباب يا ستار او ښنجو به د يو چا غېږې ته ځان رسولی و او بيا به ټوله حجره په سر را اخيستلې شوې وه ، د حجرې د کوم کنج بازو به خامخا په مستۍ کښې مات شوی و او داسې خو به هغه شپه د مستۍ په يوه ښکمرغه شپه

بدله شوه . په دغې شپه به "داغي" له هم خوب نهٔ ورتهٔ.
گرده شپه به د حجرې په انګړ کښې ګرځېدهٔ ، کله به یې د
تولې کلا یو ګشت وکړ ، یو عمومي شانته ځار به یې وکړ
او بیا به بېرته د حجرې دروازې ته راغی . بیا به یې لکۍ وخوځوله
او لکه چې د ځوانانو په دې خوښی او مستۍ کښې چې دی
هم د لکۍ په خوځولو او تو پونو برخه اخلي . کله خو به یې
په خپله بنۍ متېه د حجرې دروازه ورو شان وربېرته کړله .
خپل سر به یې حجرې ته ورننویست ، لږه شیبه به هلته ولاړ
و او چې بیا به د حجرې د زلمو د مستۍ په ولولو کښې د کوم
یوهٔ ورته فکر شو ، نو غږ به یې پرې وکړ :
- او هو ! داغي . راځه ته هم رکله شه .
او بل به غږ پرې وکړ :
- ګوره ، داغي ! ظالمه ، دلته څهٔ کې ؟!
او داغي به بېرته له دروازې ځان رابهر کړ او بیا به یې د
د سترې کلا ځار وکړ . په یوه منډه به د کلا په ګوټ ګوټ
کښې وګرځېد . د کلا ځېنو بامونو ته به هم وخوت ، چې کوم
څهٔ شی به په نظر ورغی ، نو بنه شیبه به ورته وغپېد
او بیا چې به یې باور راغی چې کوم خوک یا څهٔ شی نهٔ ښکاري
نو بېرته به د کوټې له بامونو رابنکته شو ، بیا به په لویه
کلا کښې یو خوا بل خوا په منډه منډه وګرځېد او بیا به یې
د حجرې د کوټې دروازې ته ځان ور رساوهٔ . او لکه چې

غواړي بيا ځان د زلمو په مستۍ کښې ور ګډ کړي .

"داغي" عجيبه سپې وو . ډېر کلونه يې په هدې کلا کښې تېر کړي وو . وړوکي کوکری وو چې دې کلا ته چا راوړی ، هدلته ستر شو . هدلته يې خپله ځواني تېره کړه او هدلته تري ښه غټ سپی جوړ شو . زياتي زوړ شوی وو ، خو هم به يې د کلا د زلمو خيال ساتلو ، هم د زړو او هم د کوچنيانو . دی چې وړوکي کوکری وو او دې کلا ته راوړل شو ، نو پر تک سپين پوټکي يې څو نصواري شانته داغونه وو ، بيخي برګي هم نه وو خو ټول څلور پنځه نصواري داغونه يې پر سپين پوټکي د هغه ښکلا لا زياته کړې وه . د دې کلا دکوم ماشوم دغه کوکری ډېر خوښ شوی وو . هغه يې خپلې کلا ته راوړی وو . کوچنيانو به هم د دغو ښکلو داغونو له کبله داغي ورته وايه او بيا دا کوکری په "داغي" مشهور شو .

زړه کلا هيڅکله بې کښې کوټي نه وه ، که په دغه کلا کښې به کومه ښه بده پېښه شوه نو بيا خو به يې کښه ګوټه بيخي بل ډول وه . داغي به هم په دغه کښه ګوټه کښې لا زيات خوشحاله ښکارېده . خپله لنډی لکی به يې په بيړه بيړه خوځوله او خپل بوخ غوږونه به يې نور هم بوځول . که په دې زړه کلا کښې به واده وو نو داغي به داسې په منډه يوې او بلې خوا ته ګرځېده چې تا به ويل د واده په ضروري او کاري کسانو کښې دی او چې زړې کلا ته به کوم غم پېښ شوي وو نو د

هغهٔ بوخ غوبږوينه به هم زوږېند وو او لکه به يې هم مړاوې ښکارېدله .

د زرې سترې کلا تولو استوګنو له داغي سره مينه لرله . هغه ځکه پر تولو ګران و چې داغي به هم پر هر يوه مينه کوله . کله چې به کوم يو دغه وخت له پاره په کلي او کلا کښې نهٔ و او چېرته به سفر ته تللی و او بيا به بېرته کلا ته راغی نو داغي به له تولو وړاندې ورمخې ته شو . په پښو کښې به ورته ښه دېره شيبه ورغړېد او بيا به يوې خواته ودرېد .

● ● ●

نن زړه کلا مړوره وه . غمجنه وه او دا زړه کلا هېڅکله هم چا دومره غمجنه نهٔ وه لېدلې . خدای خبر نن پر زړه کلا څهٔ تندر راغورځېدلی و . د زرې کلا د تولو استوګنو سترګې لمدې وې . د زرې کلا د بوالونو او دروازو هم لکه چې ژړل او عجيبه وه اسمان هم نرۍ پوېنه وروله . لکه چې د زرې کلا بد مرغي هرڅهٔ ژړول . وريځې يوې خوا او بلې خوا ته اوښتې راوښتې .

د مابنام له خرې سره سم زړه کلا خالي شوه ، هماغه د کلونو کلونو زړه کلا ، هماغه د لوړو د بوالونو ، د لوړو برجونو سترو کلا ، هماغه دادم کاکا د بچو او لمسو او کړوسو او کودو کډه کلا ، هماغه د مستۍ کلا ، هماغه د شنو کروندو په منځ کښې ولاړه کلا او هماغه د غرهٔ په بيخ کښې جوړه شوې

کلا . دغه کلا د ماښام په خړه کښې بېخي خالي شوه . ټول استوګن يې په لمدو سترګو ، له دې زړې کلا څخه ، دغه د خپلو پلرونو او نيکونو له کلا څخه ووتل او چې هر يو به له کلا څخه ووتلو او ترشا به يې يو ځل بيا زړې کلا ته وروکتل نو يوه ښه شيبه به ودرېد ، لکه چې د زړې کلا دېوالونه او برجونه چې څه ورته وايي . لکه چې زړه کلا ورته د لوېې زړې دروازې په خوله ، تېرې هېرې کيسې کوي . لکه چې هغه ته او زړې کلا ته په ګډه د هغه د زېږېدو له وخت څخه تر هدغې شيبې ، هدغه د مخه بنې تر شيبې کيسې کوي او هر يوه استوګن چې به د وروستي ځل له پاره خپلې زړې کلا ته وروکتل نو هماسې څه کانه به پرې وشوه .

د ماښام خړه چې هرڅومره زياتېدله ، هرڅومره چې تياره زوروره کېدله نو هغومره زړه کلا خالي کېدله او بيا نو بېخي خالي شوه . يواځې "داغي" لا په زړه کلا کښې پاتې و . ټولو چې داغي ته هرڅومره تو . . . تو وکړل او هرڅومره چغې چې لې ورته وکړلې ، داغي له زړې کلا راونه ووت . بنه دېره شيبه يې په هغه پسې خوارې وکړله . څو زلمو په ګډه په داغي پسې منډې پيل کړې ، ټول يې ستړي کړل او داغي لاس ته ورنه غی . داغي په زړه کلا کښې د پاتې کېدو له پاره خپل ټول زور بيوځای کړ او لکه چې هغه خپل ټول زور هدې شيبې ته ساتلی و . پر داغي د هېچا زور ونه رسېد او بيا نو مجبور

شول چې داغي پرېږدي ، د داغي د پرېښودلو او پاتې کېدلو داغونه له ټولو سره په زړونو کښې پاتې شول .

داغي له زړې کلا سره یوازې پاتې شو . هغه ټوله شپه سونګېده . انګولا یې کوله او لکه چې هغه ژاړي ، لکه چې هغه د زړې کلا په سرنوشت پورې ژاړي ، لکه چې هغهٔ ته زړه کلا له خپلو استوګنو پرته دېره بل ډول ښکارېده . ټوله شپه له زړې کلا څېرچاپېر وګرځېد . په هېڅ ځای کښې یې د زړهٔ تسل نهٔ کېدهٔ . هغهٔ هېڅکله زړه کلا داسې نهٔ وه لیدلې. هغه څو شپې یې همداسې وکړل ، څو ورځې یې همداسې وکړل ، هغهٔ غوښتل چې زړه کلا یوازې پرېږ نهٔ ږدي . پر هغهٔ زړه کلا ډېره ګرانه وه او غوښتل یې چې تر پای له همدغې زړې کلا سره پاتې شي .

• ● •

زړه کلا همداسې خالي پرته وه . د زړې کلا زاړه پلن او لوړ دېوالونه لا هماغسې خپه ول . د زړې کلا زړه دروازه لا هماغسې بنده او غمجنه وه . کله کله به په هول کښې د کارغانو اوازونه واورېدل شول ، خو اخوا ته ، د زړې دروازې کیڼ اړخ ته "داغي" پروت و ، څنګ ته یې د سرې وینې څو داغونه پراته ول او لکه چې دا داغونه د داغي خولې جوړ کړي ول .

کابل

۱ ، ۱۱ ، ۱۳٦۷

# کوچنی غازی

د خوارلسو پنځلسو کلونو د شا او خوا معلومېده. په دې زندان کښې تر ټولو کوچنی بندي و. هغه یې یوازې په یوه کوټه کښې اچولی و. کوټه قلفي وه. کله کله به یې بهر راایستلو. یو عسکر به ترشا ورپسې روان و. هغه به په دغه حال کښې هم په ډېر ډاډ او اتکل کښې داسې روان و، داسې قدمونه به یې اخیستل، لکه د پوخ عمر کوم اتل بندي چې د غرور او ویاړ گامونه اوچتوي. په پښو کښې خو یې زولنې نه وې خو هغه ته چې به چا کتل نو د پښو د تصوري زولنو آواز به د هغه د تګ په ښکالو کښې هم سره ته د محبوبې د بنګړو د شرنګا د آواز په څېر ښکاره شو.

هره ورځ چې به هغه ته له کوټې قلفي څخه د راوتلو

اجازه ورکړله شوه او هغه به راووت ، نو د ټولو بندیانو سترګې په هغه ته وروا وښتلې . ټولو به لاس ورته پرېښودله . ټولو به حېران حېران ورته کتل . خو هغه به تل پاس کتل ، د زندان لوړو دېوالو او برجونو ته ، آسمان ته ، لمر ته .

هسې خو په زندان کښې د هر بندي جلا جلا کیسې او افسانې وې ، هر چا ځان ته خپلې خپلې کیسې لرلې ، او کله کله به د غو کیسو د افسانو بڼه غوره کوله ، خو د هغه په باب به په زندان کښې ډولې ډولې کیسې کېدلې . چا به یو څه ویل او چا به هم بل څه . هغه ټولو ته ګران و . د ټولو بندیانو په زړه کښې یې ځای و ، خو له هغه سره یې د مینې د ښکاره کولو له پاره توان نه لاره . د غه توان ترې اخېستل شوی و . کله چې د مینې د ښکرګند ولو توان هم نه وي ، نو ټول توانونه له منځه ځي . د غرلي په باب هم خبره هداسې وه . آ رښتیا ! د هغه خپل نوم غرلې و .

غرلې به خدای خبر له پخوا څخه هداسې خوار خوار ینجی و او که اوس زندان داسې ځپلی و . بس یوازې پوستکی او هډوکي ښکارېده ، خو په سترګو کښې یې څه عجیبه اغېز پروت و . یو ډول برم یې لاره ، او لکه چې دغه برم د هغه کیسو هغه ته بخښلی و . غرلې به لنډۍ شان زېړې جامې اغوستې وې او ناره بوټان به یې په پښو وو ، لکه چې د ده خپل نه وي او یا لکه چې اوس د ده په پښو کښې لوی شوي وي ، د ومره له کاره لوېدلي وو چې دا نه معلومېدل چې یو وخت به یې رنګ څنګه و ؟

غرني له چا سره خبرې نه کولې . هغه ته يې د خبرو اجازه ورکوله هم نه ، خو د هر بندي په زړه کښې دا تلوسه وه چې له هغه سره يوه شيبه ناست واى ، هغه ته يې يوه شدببه بنه سم کتلى واى . د هغه د زړه خبرې يې اورېدلې واى . هغه به څنګه غږېږي ؟ هغه به څه وايي ؟ دا د ولې پوښتنې د هر بندي په ذهن کښې پرتې وې . خو هغه له چا سره خبرې نه شوې کولې ، بل کوم بندي هم زړه نه شو ښه کولى چې هغه ته څه ووايي . چا زيات ورکتلى هم نه شول .

په زندان کښې د هغه د کړولو او ځورولو رنګ په رنګ کيسې کېدلې . چا به د هغه د ځورولو په باب يوڅه ويل او چا بل څه . په تېره بيا په هغه وخت کښې چې غرني يې ډېر وخت له کوټه قلفي څخه رابهر نه کړ . بيا به نو اوازې او انګازې بل ډول شوې . تودې به شوې ... سړې به شوې ... بيا به تودې شوې او دغه سړښت او تودښت به همداسې روان و .

خو يوه ورځ څه عجيبه شان پېښه وشوه . هغه يې هم بهر راووېست . همماغسې له برمه ډک کامونه يې اخېستل . تر شا يې يو سپاهي ورپسې روان و . دا ځل يې وجود لا نور زيات کمزورى ښکارېده . لږه شيبه چې به تېره شوه ، پرځاى به کښېناست ، لنډه شان دمه به يې وکړه او بيا به روان شو . هغه لا زيات کمزورى ښکاره کېده ، خو خداى خبر چې د لنډې لارې د لنډ مزل کمزوري کامونه يې هم څنګه له برم څخه

ډک ښکاریدل . هغه لږه شیبه ودریده . خپل شا او خوا ته یې وکتل.
بیا یې د زندان لویې د یوالونه او برجونه له نظره تیر کړل او پر
ځای کښیناست . په همدغه وخت کښې یو د پوځ عمر زندانی له خپله
ځایه منډه کړه . په یوه منډه یې خپل ځان تر غزني ور ورساوه
او بیا یې هغه له متوینو څخه نیولی او پر خپلو اوږو سپور کړی
و . دا کار یې د ومره په بیړه کښې وکړ لکه چې څوک سترګې رپوي.
هغه یې پر اوږو سپور کړ او یوه چیغه یې کړه :

–کوچنی غازي . . . کوچنی غازي . . .

د زندان په انګړ کښې د ټولو سترګې د هغه په لور شوې.
هغه خپل غږ نور هم لوړ کړ :

–دا دی کوچنی غازی . . . کوچنی غازي دا دی . . .

ټول د هغه پر لور ور روان شول ، خو لا نور څوک
نه وو ور رسیدلي چې له هغوی څخه بیا کښې شمیر سپایان
راتاو شوي وو . هغه او غزني د وا ړه یې تر کوټنکو لاندې
کړل او بیا یې په نورو زندانیانو راباندې کړل . خو هغه زنداني
لا هماغسې د خپل غږ انګازې اوچتولې :

–کوچنی غازی . . . کوچنی غازی . . .

خو سپایان رازیات شول او بیا ډیر ژر د غه ګڼه ګوڼه
ختمه کړی شوه . څو ورځې یې بندیان د زندان انګړ ته را ونه–
وبستل او هغه د پاخه عمر سپین ږیری یې بیرته کوټه قلفي کړ.
له دې وروسته د زندان په هره کوټه کښې د غزني په

باب خبرې کرمې شوې . له دې وروسته به هغه ته هیڅ‌چا هم غرنۍ نه وایه . هغه په «کوچني غازي» مشهور شو . اوس به نو زیاتې زنداني کیسې د "کوچني غازي" په باب وې .

کوچني غازي په یواځې ځان د روسانو یو ټانک تباه کړی و. کوم لاسي جوړ شوی بم یې د ټانک مخې ته وراچولی و . ټانک او پخه روسان یې په کښې لولپه کړي وو . بیا یې هغه نیولی و او دا دی دا دومره موده په زندان کښې و .

له هاغې ورځې وروسته به د هرچا په خوله کښې د "کوچني غازي" خبره وه :

– وایي چې کوچنی غازي یې ډیر وهلی دی . . .

– ټول یې داغلی دی . . .

– ظالمو پر کوچني غازي څه څه نخرې نه دي کړې . . .

– وایي چې کوچنی غازي نه خوب ته پرېږدي . نه د خوراک څه ورکوي . . . ورته وایي چې ووایه : د چا په لارښوونه دې دا کار کړی دی ؟

– او د هغه له خولې سپین قدرې هم نه وځي . . .

او بل به په کښې راغبرګ کړ :

– آفرین د نارینه اولاده !

خو یوه شپه دا ټولې کیسې پای ته ورسېدلې . تکه توره شپه وه . زندان له پخوا څخه هم خونړی ښکارېده . وریځ وه . د اسمان مخ ټول په تورو وریځو پټ و . په هغسې

یوه شیبه کښې څوک راغلل او"کوچنی غازي" یې له کوټه قلفي
بهرکړ . هغهٔ ته یې تکه توره خولهٔ ورپهٔ سر کړې وه . د هغهٔ
سترګې یې ورپټې کړې وې ، خو د هغهٔ له بیولیو سره سم پهٔ
ټول زندان کښې انګازې خپرې شوې :
-کوچنی غازي . . . کوچنی غازی . . .
د هغهٔ غږ پهٔ بدرګه کښې هغه روان و . ګامونه یې لهٔ
پخوا څخهٔ هم، لهٔ زیات برم څخه ډک وو . د غو غږونو د
زندان ټولې کوټې او ټول د هلیزونه ونیول او انګازې یې غبرګې
او راغبرګې شوې . هرچا او هرڅهٔ شي غږ کاوهٔ :
-کوچنی غازي . . . کوچنی غازي . . .

حوت ۱۳۶۸ ش

پېښور

ورکه سندره

نوې راډيو مې اخيستې وه . راډيو مې زياته خوښه وه.
زهٔ چې وړوکې وم هم مې راډيو ډېره زياته خوښه وه . ما به تل
خپل پلار ته د راډيو د اخيستو ويل . پلار به مې خبره هسې پهٔ هغه
دغه تېره کړله . يوه ورځ مې کلک تکل وکړ چې نن خامخا خپل پلار
ته پهٔ دې باب وايم . دا ځل به خامخا راډيو راته واخلي. زهٔ
به کلکه غوښتنه ترې وکړم . هغهٔ ته مې وويل :
- پلاره ! د ټولو خلکو راډيو شته او زموږ نهٔ شته .
هغهٔ ځواب راکړ :

---

* دغه لنډه کيسه ګڼو پهٔ يوه مجله کښې
د "ستا پهٔ لاس کښې جام جام ..." پهٔ نوم چاپ شوې ده .

- د تولو له کومه شوه ؟

ما ورته وویل :

- هغه دی د شریف دې هم شته ، د ګنډیر دې هم او د . . . .

خو هغهٔ زما خبره ، زما په ستوني کښې راوچه کړله :

- پریږده ! غوږونه مې مهٔ خوره . چپ شه !

زهٔ لا هماغسې پهٔ خپله خبره ټینګ ولاړ وم :

- نو ولې د هغوی شته ، ولې زمونږ نهٔ شته . . . ولې نهٔ شته . . . .

د هغهٔ حوصله لکه چې نوره نهٔ وې پاتې شوې . پهٔ غصه یې راته وویل :

- پهٔ څهٔ یې واخلم . . . لهٔ کومه یې کړم ؟!

زهٔ حیران شوم . څنګه یې پهٔ څهٔ واخلي ؟ څنګه یې لهٔ کومه کړي ؟ دا نور و خلکو لهٔ کومه کړې ؟ . . . زهٔ په دې خبرو نهٔ پوهېدم . هغهٔ ته مې د پېر لنډ ځواب ورکړ :

- ولې خو وایې خله کړنه ، څهٔ سخته خو نهٔ ده .

زما د پلار قهر دا ځلې لا زیات شو . دا وار یې پهٔ لوړ اواز راته وویل :

- څنګه یې واخلم ؟ پهٔ څهٔ یې واخلم ؟

او لهٔ یوې شیبې څند وروسته یې خپل اواز لا زیات لوړ کړ او ما ته یې پهٔ غصه وویل :

ـ بس چې نور مې غوږونه ونه خوري . پوه شوې ملکه!

د هغه له قهره کنه له يوې خوا ډارېدم ، نو له بلې خوا زه نه پوهېدم چې هغه يې څنګه نه شي اخېستلی . اخر مې زړه راغټ کړ او بيا مې ورته وويل :

ـ په ښار کښې خرڅېږي . تول يې اخلي . لاړ شه هلته يې واخله . يوه ښايسته راډيو واخله ، چې ښايسته سندرې په کښې وي . . . .

هغه دا ځل د قار پر ځای موسکی شو . ما فکر وکړ چې زما خبره يې ګوندې زړه ته ولوېده . زه هم خوشحاله غوندې شوم ، خو هغه په خندا ماته وويل :

ـ اخېستل خو يې اسان دي ، خو په څه يې واخلم ؟

ما ورته وويل :

ـ نور خلک يې په څه شي اخلي؟

هغه ځواب راکړ :

ـ نور ؟ نور يې په پېسو اخلي .

او ما په بيړه ورته وويل :

ـ ته يې هم په پېسو واخله .

هغه دا ځل يوه شيبه ځنډ وکړ . په کراره يې راته وويل:

ـ پېسې له کومه شي بچو ، پېسې ؟!

او له دې خبرې سره سم زه چپ شوم . هغه هم چپ شو . زما په ذهن کښې د دې خبرې پر له پسې انګازې

جوړولې :

- پېسې له کومه شي ... پېسې ... پېسې ...

خو زه په دې نه پوهېدم چې هلته له هغو څو نوروکوړونو سره پېسې له کومه شوې دي ، هغوی نو راډیوګانې په څه شي اخیستې دي ؟ او بیا مې سوچ وکړ چې دا زما له پلار سره نو ولې پېسې نه شته ؟ زه په دې نه شوم پوهېدلی . زما په ذهن کښې لا هماغسې سوچونه کرځېدل راګرځېدل . د غو سوچونو لا زما د زړه هوسونه راهڅول خو ما اوس د خپل پلار د خبرې په وړاندې د کومې بلې خبرې ځای نه شو موندلی . هغه ماته پرېکړې خبره کړې وه . هغه باید پېسې له کومه کړې وای ؟ زه د دې سوال په ځواب نه پوهېدم . زه نه پوهېدم چې له هغه سره ولې پېسې نه شته ؟ هغه ولې نه شي کولی چې راډیو واخلي ؟ ولې پېسې نه شته ؟ ولې راډیو نه شته ؟

زموږ کور د ګندېر دوی د کور په څنګ کښې و . موږ او هغوی سره ګاونډیان وو . هغوی چې به کله راډیو جګه ونیوله نو غږ به یې زموږ کور ته هم رارسېده . خو زیاتره وخت به یې راډیو جګه نه نیوله ، او چې راډیو به جګه وه او کوم چا به یې غږ بېرته ټیټ کړ ، نو لکه زما زړه چې یې له سینې څخه بوټې راوېستلی وي .

زما په زړه کښې به تېر شول :

- د ظالم زویه څه دې وکړل ؟!

او بیا به مې په زړه کښې د پلار هغو خبرو انګازې جوړې کړې :

- پیسې نه شته بچو ... پیسې !

او ما به بیا هم له ځانه سره فکر وکړ :

- چې دا ولې نه شته . خدای زده ولې ... ولې ... ؟

او بیا به هغو سوچونو له ځان سره لاهو کړی وم. زه به تر ډېره پورې په همدغو سوچونو کښې ډوب وم. دغه سوچونه زما د ژوند یوه نه جلا کېدونکې برخه وه. د راډیو د لرلو هوسونو به زه هره ورځ ځورولم.

ما یوه ورځ خپل همزولي او ګاونډي ګنډېر ته وویل :

- ګوره ګنډېره ! که په راډیو کښې کومه ښه سندره وه، نو ښه یې ځګوه چې موږ یې هم واورو کنه !

ګنډېر یو منونکی هلک و. هغه به تر دې وروسته هداسې کول. کله به یې راډیو دومره ځګه ونیوله چې ما به فکر وکړ، راډیو زما په څنګ کښې ده. او په دې توګه به اوس ما د خپلې راډیو د لرلو تسکین د ګنډېر د وړې پر راډیو کولو. یوه شپه په راډیو کښې یوه ډېره ښکلې سندره وه. ګنډېر خپله راډیو ښه ځګه کړې وه. یو ځل مې د هغه د پلار غږ واورېد چې پر ګنډېر یې منت وکړ :

- ټیټه کړه رذیله ! څه هوټل خو نه دی !

او بیا یو ناڅاپه راډیو ورو شوم . د ومره وروړ چې د
ګنډېر د وړی له کوره یې تر دې ځایه اواز نه شو راتللی . د
ګنډېر د پلار خبره نه وه ، لکه زما کوپړی ته چې دې تبر
راخلاص کړی وي . یو ناڅاپه له ځایه پورته شوم . د خپل
کور په انګړ کښې یو خوا او بل خوا وګرځېدم او بېرته خپل کوټې
ته راغلم . بېرته په خپل ځای کښې څملاستم . بیا نو ګنډېر د خپل
پلار له ډاره راډیو ته ګوتې ورنه وړې . د راډیو د سند ریز غږ
پرځای د ګنډېر د پلار قهرجن غږ زما په ذهن کښې انګازې
جوړولې :
- تیږه کړه رذیله ! څه هوټل خو نه دی !
د ګنډېر د پلار د غه غږ زما په غوږونو کښې هداسې
انګازې کولې . ما د هد غه غږ په باب فکر کاوه . خدای خبر په
هوټل کښې به څنګه وي ؟ د هوټل نوم یې څنګه واخیست؟
لکه چې په هوټل کښې ډېرې زیاتې راډیوګانې وي ، که څنګه ؟
هداسې به وي . هوټل به له راډیوګانو ډک وي او د ټولو
راډیوګانو اوازونه به جګ وي . په ټولو کښې به ښکلې سندرې
وي . د هوټل په باب او د هوټل د راډیوګانو په هکله زما
سوچونه هداسې روان وو . زما په زړه کښې تېر شول :
- کاشکې زموږ د کور په څنګ کښې هم هوټل وای !
ما یوازې د هوټل نوم اورېدلی و . یوازې د کلي څو
هلکانو راته په بازار کښې د هوټلو په باب یو څه ویلي وو .

زموږ په کلي کښې به ځينو هغو هلکانو چې پلرونو به ښار ته له ځانه سره بوولي وو ، د هوټلونو په باب کله کله موږ ته خبرې کولې . هغوی به ويل :

ــ په هوټلونو کښې عجيبه ډوډۍ وي !

بل به وويل :

ــ داسې غوره ډوډۍ وي چې بس له هرڅه نه غوره ځاځي !

او موږ ټولو هلکانو به لاړې تېرې کړې . کوم بل هلک به په کلانکارۍ وويل :

ــ ښه ده چې د هوټل چای او خواږه مو هم نه دي لېدلي .

بيا به يې وخندل او په غرور به يې وويل :

ــ که چا د هوټل چای او ډوډۍ نه وي خوړلې نو هغوی په دې خبرو نه پوهېږي .

او خپلې خبرې ته به يې ادامه ورکړه :

ــ هلته داسې کښه کوټه وي چې هې توبه ! يوه دله ځي او بله راځي . مېزونو ته څوکيو ناست وي او رنگ په رنگ ډوډۍ ورته راځي .

او چې دا خبره به يې وکړه نو موږ نورو هلکانو ته به په کلي کښې د کوم شتمن سړي خيرات راياد شو او يا هم د کوم بډای کور د وادهٔ نارۍ چې څنګه به ډلې ډلې خلک خيرات

او ناري ته تلل او راتلل ، خو هغهٔ هلک به بیا وویل :

— ډوډۍ يې بل رنګ خوندکوي . تاسو به هيڅکله هم نهٔ وي خوړلې . . . .

او زموږ د ټولو په زړونو کښې به د ښار او د هوټلونو د لېدلو د هوس سکروټې بلې شوې .

زما په زړهٔ کښې به تېر شول :

— کاشکې ما هم هوټل لېدلی وای !

خو اوس چې مې د ګندېر د پلار دې خبرې بیا بیا په غوږونو کښې انګازې جوړې کړې وې چې :

— يتيمه کړه رذيله ! څهٔ هوټل خو نهٔ دی !

نو زما په زړهٔ کښې به بیا بیا دا امېدونه راتلل چې :

— کاشکې زموږ کور د هوټل په څنګ کښې وای ! راډيو خو به مې تل اورېدلی !

زهٔ په هغو سوچونو ، په هغو امېدونو کښې ډوب وم . ما په هغې باب فکر کاوهٔ ولې د ګندېر دې راډيو شته او زموږ نهٔ شته ؟ او زهٔ په هغو سوچونو کښې خوب يوړم .

پلار مې د لوی سرک پر غاړه له سر وېښ څخه راکوز شو . هغه سهار ښار ته تللی و . ډېر په بيړه بيړه کور ته راروان و . ما ورځنۍ کړلې . مخې ته ورغلم . له ورايه مې غږ ورته وکړ :

- پلاره ! راډيو دې راوړم ؟ راډيو دې راوړم ؟ راډيو دې . . . .

هغهٔ په ارامه راته وويل :

- هو ! راوړې مې ده .

زما د زړهٔ يوه ستره هيله ترسره شوې وه . زړهٔ مې ټوپونه پيل کړل . په تلوسه مې پوښتنه ترې وکړه .

- کومه ده پلاره ؟ ته يې ماته راکړه !

هغهٔ راته وويل :

- پرېږده بابا ! اوس مې پرېږده . چې يو ځل خو کور ته ورسېږو .

او زما په زړهٔ کښې سخت ارمان بيا غزونې وکړې :

- کاشکې هدا اوس په کور کښې واى !

د غه ډېره لنډه لار پر ما ډېره اوږده تېره شوه . کله چې موږ کور ته راورسېدلو ، نو پلار مې خپل راوړې پنډوکي راخلاص کړ . هلته يې راډيو ډېره په احتياط په کڼې شمېر توټو کښې تاو کړې وه . په ډېر احتياط يې راواخيستله . لکه خوږ لاس داسې يې ټوټې ترې لرې کړې . زما زړهٔ ټوپونه وهل . ما يو وار لهٔ خپل پلار څخه غېږه راتاو کړه . هغه راته نور هم ګران شوى و . هغهٔ راډيو ماته راکړه . زما زړهٔ خپل ټوپونه نور هم زور زور کړل . ما راډيو ته پاس او لاندې ، شا او خوا ښه ډېره شيبه وکتل . ډېره زياته مې خوښه شوه . راډيو

مې چالان کړه . ښه مې جګه کړه . څهٔ خبرې په کښې وې . نور
مې یې هم غږ لوړ کړ . ما ولیدل چې زموږ ټول ګاونډیان، ټول
لوی او واړهٔ ، ښځې او پېغلې په خپلو کوټو راپورته شوي دي .
ټول حیران ولاړ وو . ټولو زموږ کور ته زاکتل . ماته څهٔ
عجیبه غرور پیدا شوی و . ګنډېر هم د خپلې کوټې پرسر
ولاړ و . ما هغه ته غږ کړ :

ـ ګنډېره ! ستاسو راډیو ښایسته ده که زموږ ؟

او هغه چپه خولهٔ ولاړ و . لکه زما خبره یې چې هېڅ
اورېدلې نهٔ وي . ما بیا ورغږ کړ :

ـ تاته وایم ګنډېره ! ستاسو هغه ښه ده که زموږ ؟

او بیا مې غږ نور هم یو څهٔ لوړ کړ :

ـ تهٔ خو وګوره کنه ؟

ما راډیو په لاس کښې یو څهٔ وړ اوچته کړه . د راډیو غږ
مې نور هم یو څهٔ جګ کړ . هغه دا ځل هم چپ ولاړ و .
زما دا ځل هغه ته غصه راغله :

ـ تاته وایم وه د سپي بچیه !

عجیبه وه . هغهٔ بیا هم څهٔ ونهٔ ویل . زما د قهر
ځواب یې هم رانهٔ کړ . ما چې هغهٔ ته وړ وکتل کهٔ ګورم چې
هغه ماته په بې پروایۍ راوکتل او بیا بېرته خپل کور ته کوز
شو . ما چې شا او خوا ته وکتل نو زموږ ټول ګاونډیان بېرته خپلو
خپلو کورونو ته کوز شوي وو . د ټولو کوټو سرونه خالي
شوي وو . زما غرور یو ډول تر پښو لاندې شوی و . هغوی

دکوټولهٔ باموټو څخه کوږ شول ، خو لکه چې زهٔ یې د غرور
لهٔ بام څخه کوږ کړی یم . زهٔ حیران وم . ګنډېر څنګه زما
د پوښتنو ځواب رانهٔ کړ ؟ څنګه ټول ګاونډیان زموږ لهٔ راډیو
سره بې علاقې وو . ما یوځل بیا خپلې راډیو ته لاندې باندې وکتل .
ما د راډیو سویچ تاو راتاو کړ . یوځل یوه ښکلې سندره پهٔ کښې
پیل شوه .

ــ ستا پهٔ لاس کښې جام جام
خدای دې راپخلا کـــه . . .

هماغه سندره چې زما خوښه وه . هماغه سندره چې
کله به دګنډېر دوی پهٔ راډیو کښې راوړته ، نو زما غوږ ونه
به بیا د هغوی دکور د دروازې سوري ته رسېدلي وو
او تر هغه چې به دا سندره نهٔ وه خلاصه شوې ، نو زهٔ
به لهٔ هغهٔ ځایه نهٔ رابېرته کېدلم . زما ښهٔ یاد شي . یوه
ورځ د شپې موږ ټول پهٔ خپل انګړ کښې پراته وو . دګنډېر
دوی راډیو ډېره وړو وړو غږېدله . یوځل هدا سندره
پهٔ کښې راووتله :

ــ ستا پهٔ لاس کښې جام جام
خدای دې راپخلا کـــه . . .

او زهٔ یوځل لهٔ خپله ځایه راپورته شوم . خپل بام ته
وختلم . ما پهٔ زوره ګنډېر ته ورغږ کړ :
ـ ګنډېره ! راډیو خو مو لږه جګه کړه زوروره !

او ما په خپل د غه غږ خپل پلار او د کنډېر پلار دواړه له خوبه راجګ کړي وو. په هغه شپه زه خپل پلار ښه وه بولسم.

او س چې مې پلار هډ غه څو شيبې مخکښې له ښاره نوې راډيو راوړې وه، نو دا دی، همدغه سندره په کښې پيل شوې وه:

– ستا په لاس کښې جام جام

خدای دې راپېخلا که ...

ما د خپلې راډيو غږ نور هم لوړ کړ. خپل شا او خوا ته چې مې وکتل، بيا هم زموږ ټول کاونډيان د خپلو کوټو سرونو ته راختلي وو. ما ته بيوځل بيا غرور راپيدا شو. ماچې د کنډېر دوی د کور بام ته وکتل نو کنډېر لا د کوټې سر ته نه و راپورته شوی. ما د راډيو هوا نوره هم ګړنده کړه. زما د خوښې سندره نوره هم مستې ته رسېدلې وه:

– ستا په لاس کښې جام جام

خدای دې راپېخلا کـه ...

او زما زړه هوا وکړه. له ځايه راپورته شوم. د سندرې غږ مې نور هم لوړ کړ او ما يو ناڅاپه راډيو هم له مستۍ نه هوا ته ګړنده کړه. راډيو ډېره زياته ګړنده شوه. ما خپل لاسونه ورته نيولي وو. ښېرته راښکته شوه، خو زما لاسونو هغه ايساره نه کړې شوه. راډيو پر زمکه ولوېده او ټوټې – ټوټې شوه. سندره هم بنده شوه. لکه د سندرغاړي مړې

چې دې بنده کړې وي . زما زړه په درزکي ولګېد . ما ولیدل چې ګنديږ ولاړ دی . هغه چې ما ته او زموږ راډیو ته راوکتل نو د کټ کټ خندا یې شروع کړه . ما ولیدل چې زموږ نور ګاونډیان هم بېرته خپلو بامونو ته راپورته شوي دي او زموږ ټول ګاونډیان په ما پورې خاندي . زه د هغوی د خنداګانو نور هم وځورېدلم . ما بیا ګنديږ ته وکتل . هغه بیا هم په کټ کټ خندل . هغه ته مې زیاته غصه راغله . ما ویل راشه یوه کلکه کنځل ورته وکړم . ما په خپل زړه کښې کنځله راجوړه کړه :

- ګ ...

عجیبه وه . زما له ستوني غږ نه خوت . ما هیڅ هم نه شول ویلی . ما غوښتل د بړخه ووایم . ګنديږ ته بنې بدې ردې ووایم چې څنګه داسې په کټ کټ په ما پورې خاندي . خو زما له ستوني هیڅ غږ راونه خوت . ما یوځل بیا ګنديږ ته او خپلو نورو ګاونډیانو ته وکتل . ټولو هداسې پرله پسې خندا کوله . د خندا څپې یې له یوې شیبې څخه بلې ته زیاتېدلې او لکه چې د هغوی د خندا د سیلاب څپې ما هم له ځانه سره لاهو کوي . زه زمکې ته ټیټ شوم . ما وکتل چې زموږ راډیو بېخي ټوټې ټوټې شوې ده ما پرخپل ځان د بړ زور راورړ او یوه سخته چیغه مې وکړه .

زه مې خپلې مور وخوځولم او په مهربانۍ یې راته وویل :

- لوښکه ! وډاریږې کهٔ ځنګه ؟

او زهٔ پوه شوم چې ښه ده راډیو خو نهٔ ده ماته شوې. اصلاً راډیو نهٔ شته ! سبا ته چې ما خپلې مور ته د خپل خوب کیسه وکړه ، نو هغې هیڅ ونهٔ ویل ، یوازې یې سترګې لهٔ اوښکو ډکې شوې وې .

خو اوس دا دی ما راډیو اخیستې وه . اوس ما خپله دومره توان لرلو چې پهٔ خپلو پیسو راډیو واخلم . ما اوس خپل د ماشومتوب او کوچنیتوب د دوران ارمان خپله ترسره کولی شو . ما راډیو اخیستې وه . ما د خپلې خوښې د سندرو د اوریدو ډیر ارمان کړې و . ما چې به راډیو نهٔ لرله نو یوازې پهٔ شوپیلو کښې به مې کله کله د خپلې خوښې د سندرو زمزمه کوله . زما خوښې سندرې ډیرې خوښې وې . هغه به مې کله یوازې پهٔ زړهٔ کښې لهٔ ځانه سره زمزمه کولې او چې کوم بل څوک به نهٔ و نو بیا خو به مې پهٔ څهٔ نیت شانته غږ لهٔ ځانه سره زمزمه کولې . ما به هره ورځ د خپلې خوښې د غه سندرې یوازې پهٔ شوپیلو کښې زمزمه کولې :

- راځه چې یوه جوړه کړو جونګړه پهٔ ځنګل کښې . . .

او :

- ببولالې . . . لالې . . .

او :

- ستا د سترګو بلا واخلم بیا دې سترګې ولې سرې دي . . .

او :

– ګوره چې خندا کوي په سترګو کښې . . .

او :

– ستا په لاس کښې جام جام
خدای دې را پخلا که . . .

خو اوس دغه ټولې سندرې ما په خپله راډيو کښې اورېدلې شوې. ما خپله راډيو اخيستې وه . ما هغه راډيو اخيستې وه چې ماېې خوبونه لېدلي وو. هغه چې زه ورسره په ويښه او په خوب کښې يوځای اوسېدلی وم . ما خپل ارمان ترسره شوی ولېد . ما ته بيا يو ډول غرور راپيدا شو . په خپلو پيسو مې ځانته راډيو اخيستې وه . اوس ما دومره پيسې ګټلې شوې چې ځانته پرې راډيو واخلم . ما اوس مکتب پای ته رسولی و. په يوه ځای کښې مې ځان ته کار پيدا کړی و ، او دا دی دوه معاش مې لاره چې راډيو پرې واخلم . ما په خپل لومړني معاش خپله دخوښې راډيو واخيستله . خپل ټول معاش مې په راډيو ورکړ . ما چې له دکاندار څخه راډيو واخيستله او هغه ته مې پيسې ورکولې ، نو ما ته مې هغه دکوچنيتوب د وخت د راډيو په باب ټولې شلې ګډې رايادې شوې . ما ته مې د پلار هغه خبره بيا بيا رايادېدله :

– پيسې له کومه شي بچو . . . پيسې ؟!

او دا دی،ما اوس پيسې پيدا کړې وې . دا دی راډيو مې

اخیستې وه . دا دی اوس مې دکاندار ته پیسې حسابولې ، خو زۀ دغو سوچونو د پیسو پهٔ حساب کښې تېر وېستلم . ما بیا د پیسو حساب لهٔ سره پیل کړ . ما به لا د پیسو حساب نیمایي ته نهٔ و رسولی چې بیا به مې د پلار هغو خبرو پهٔ غوږونو کښې انګازې جوړې کړې :

- پیسې لهٔ کومه شي بچو ... پیسې ؟!

او زهٔ بیا پهٔ حساب کښې غلط شوم . څو څو ځله مې د پیسو شمېرل بیا لهٔ سره پیل کړل . اخر د هغهٔ دکاندار زړهٔ زما د پیسو شمېرلو ته تنګ شو . زما لهٔ لاسه یې د پیسو ټول بنډل واخیست او خپله یې پیسې وشمېرلې .

ما راډیو پهٔ لاس کښې راونیوله او لهٔ دکانه راووتم . پهٔ ډېره خوښۍ کور ته راغلم . زیات خوشحاله وم . ځان مې هېڅکله دومره نېکمرغه نهٔ و احساس کړی . راډیو مې مخې ته کېښوده او غوښتل مې چې روښانه یې کړم . زما زړهٔ و چې لومړی پهٔ کښې خپله هماغه د خوښې سندره واورم :

- ستا پهٔ لاس کښې جام جام
خدای دې راپېښلا کـړه ...

او مخکښې لهٔ دې نه چې راډیو روښانه کړم ، خپله مې هم زمزمــه وربـــره پیل کړه :

- ستا پهٔ لاس کښې جام جام
خدای دې راپېښلا کـړه ...

ما راډيو روښانه کړله . يوې او بلې خواته مې يې ستن تاو راتاو کړه . ما خپله د خوښې سندره په راډيو کښې پيدا نه کړې شوه . اخر مې په يوه برخه کښې څه غږ واورېد . ستنه مې يې جوړه کړه او ما عجيبه څه واورېدل :

- پلانکی . . . پلار

ما خپل غوږونه تېز کړل :

- دا خو زه يېږنم !

خپل غوږونه مې نور هم تېز کړل :

- پلانکی . . . کاکا

د دهٔ نوم يې څنګه واخيست ؟

خپل هرڅهٔ مې راډيو ته متوجه کړل :

- پلانکی او پلانکی . . . ورونه . . .

او زما زړهٔ درز ولوېد . زما د يو ډېر نژدې ملګري د مرګ اعلان و . ما خپل سر ته تکان ورکړې . ما ويل چې ګوندې خوب وينم . خو نه ما رښتيا اورېدلي وو . زما يو دوست مړ شوی و او په دې توګه زهٔ په يو لوی ماتم اخته شوم . ما راډيو بېرته ګل کړه . سملاسه لهٔ ځايه جګ شوم او د هماغهٔ ماتم پر لور روان شوم . ما د خپل دوست د جنازې د ښخېدلو پهٔ مراسمو کښې ګډون وکړې . زهٔ چې بېرته کور ته راستون شوم نو پهٔ راډيو مې سترګې ولګېدلې . لهٔ راډيو څخه مې بدې راغلل . خو هغه لکه پهٔ ما پورې چې خاندي . زړ مې دمېژ لهٔ سره

لرې کړه . یوه ښکلې ته مې کېښودله .

سبا ته مې بیا زړه صبر نه شو . راډیو مې راواخیستله . په هماغې سندرې پسې ګرځېدلم . ما فکر کاوه چې اوس خو به زما د خوښې سندره پیدا شي . خو ما چې راډیو روښانه کړه بیا د یوچا د مرګ خبر و . زه هک پک شوم . ما چې هر څومره راډیو ولټوله ، د خپلې خوښې سندره مې په کښې پیدا نه کړه شوه . بېرته مې راډیو ښکلې ته کېښودله . له راډیو مې بدې راغلل . او ما بیا هم څو ورځې راډیو ته لاس ور نه وړ .

بله ورځ مې بیا هم زړه صبر نه شو . بیا مې راډیو راواخیستله . بیا مې روښانه کړله . زه بیا د خپلې خوښې سندرې په لټه کښې وم . هغه سندره ما ډېر کلونه نه وه اورېدلې . ما بیا په راډیو کښې د دې سندرې له لټون سره سم په شونډو کښې زمزمه پیل کړه :

– ستا په لاس کښې جام جام

خدای دې راپخلا کـړه . . .

خو کله چې راډیو روښانه شوه ، زه بیا هک پک شوم . بیا هم د مړو اعلانونه . بیا هم د مرګ خبرونه وو . ما بېرته راډیو ګل کړه . له لرې شیبې وروسته مې راډیو بېرته روښانه کړله . بیا هم د مرګ یو اعلان و . نوموړې یې زما غوږ ته اشنا راتلل . ټول نوموړي ماته اشنا وو . زه د ډېرو کسانو جنازو او فاتحو ته باید تللی وای . اوس زما له راډیو نه زیات بدې راغلې

وو. اوس مې له راډيو څخه کرکه کېدله. د مړګ له اعلانونو او خبرونو پرته مې لا بل څه نه وو ترې اورېدلي. يا خو به ما په داسې وخت کښې راډيو ته لاس کړ چې د مړو د اعلانونو وخت به و. يوه ورځ ما خپل يو ملګري ته وويل :

— زه خو نور د راډيو د مړو اعلانونو ستړی کړی يم. هداسې مړګونه او هداسې جنازې . . . او فاتحې .

هغه راته ځواب راکړ :

— غم يې مه کوه . د مړو له اعلانونو پرته هم ټولې خبرې د مړګونو او ويرونو په باب دي . . . پرته له مړګه به بله خبره وانه ورې .

له دې وروسته چې به هرچا ته ما د راډيو د دغو مړګنيو خبرو په هکله څه ويل، نو ټولو به هدا شان ځواب راکاوه.

ما ورو ورو د راډيو د مړګونو له دغو اعلانونو سره هم عادت کاوه. زما کرکه د خامخا اورېدلو په يو ډول عادت بدلېده. سره له دې چې زه به اوس هم کله چې کور ته ورسېدلم نو راډيو ته به مې يو ډول په کرکه کتل، خو ډېر زر به مې په زړه کښې تېر شول چې راډيو خامخا چالان کړم، هسې نه چې بيا کوم اشنا مړ شوی وي. او زياتره به هداسې کېدل. خامخا به يو يار او اشنا مړ و.

نن ماښام زه ډېر ستړی ستومانه کور ته راغلم. نن

مې ډېر زيات کار کړی و. زما د مېز پر سر راډيو پرته وه. ما چې راډيو ته وکتل نو لا چوپه پرته وه، خو بيا هم لکه په دغه چوپتيا کښې چې ما ته يو څۀ وايي، لکه چې را ته وايي: "ونيسه او ما واوره!"

زما هم زړۀ وتخنېدو، ما ويل راشه کۀ نن په راډيو کښې يو څۀ واورم. هغه چې ډېره موده کېدله، لۀ ما څخه ورکه شوې وه، خو تل به يې زما د زړۀ د ياد ونو لۀ تارونو سره لوبې کولې:

– ستا پۀ لاس کښې جام جام
خدای دې راپخلا کـه . . .

او زما لاس بيا هم يو ناڅاپه راډيو ته ورغی. ما راډيو روښانه کړله، راډيو چې څنګه روښانه شوله، نو لومړنۍ خبره يې بيا هم د چا د مرګ پۀ باب وه. زما بيا راډيو ته قهر راغی. بيا هم خبره د مرګونو پۀ باب وه. ما ويل راشه راډيو پۀ يوۀ سوک مېده مېده کړه. ما لۀ ډېره قهره لاس وراوږد کـړ. هلته چې زما لاس ورنږدې شو، نو لاس مې سست شو. ټولې نومونه اشنا وو. ټولې ما پېژندل او پۀ دې توګه زۀ د خپل کوچنيتوب د اشنا او همزولې ګنډېر لۀ مرګ نه خبر شوم. هغه چې لۀ موږ سره هغه وخت ګاونډی و. هغه چې راډيو يې لرله. هغه چې ما به پۀ کوچنيتوب کښې کله کله د راډيو لۀ خاطره هوس کاوۀ چې کاشکې زۀ ګنډېر وای. زۀ لۀ يو ډېر لوی ماتم څخه

خبر شوی وم . ما یوځل بیا راډیو ته بد بد وکتل . زه باید سبا سهار د وختهٔ دکندهر جنازې ته تللی وای . هغه چې موږ د کوچنیتوب دپرې خوږې خاطرې سره لرلې. کندهر بیا راوروسته هم زما ملګری و . تل به مو یو د بل پوښتنه کوله . د یو بل له بنې او بدې به خبرېدلو . ما ته هغه ټول تېر وختونه راياد شول . هغه هرڅهٔ مخامخ راته ودرېدل . کندهر مخامخ راته ودرېد . دکندهر دوی. هغه زړه راډيو راته مخامخ ودرېدله. او دکندهر دوی د راډيو هغې سندرې مې پهٔ غوږونو کښې بيا انګازې جوړې کړې :

— ستا پهٔ لاس کښې جام جام
خدای دې راپخلا کـه . . .

او چې دکندهر دوی پهٔ راډیو کښې به کله دا سندره راوتله نو زما غوږونو به بیا بل هېڅ خبره نهٔ اورېدله . د خپل مور او پلار کرېکې به مې هم نهٔ اورېدلې . یوه ورځ مې ښهٔ ياد شي چې دکندهر دوی پهٔ راډيو کښې دا سندره راوتلې وه. د راډيو غږ ښهٔ پوره جګ و . زهٔ ټول غوږ غوږ وم . لکه چې زما غوږونه دکندهر دوی کره وو . ما ته پلار دېرې چيغې کړې وې ، خو ما هېڅ اورېدلې نهٔ وې . اخر هغهٔ ته غصه ورغلې وه . خپله څپلۍ يې راوېشتلې وه او پرما يې ګوزار کړې وَ . زما اوس هم د هغې څپلۍ ګوزار ياد شي . څپلۍ نهٔ وه لکه اوسېنه داسې وه . هداسې درنه وه او هماغې څپلۍ زهٔ د هغې سندرې

له خونده ویښتی وم .

زه په هغو سوچونو کښې وم . کله به زما مخې ته ولاړ و . زه به خپې په هماغو وختونو او کلونو کښې وم . خدای خبر چې زه به ترکومه پورې په دغو سوچونو کښې ډوب وم ، خو زه له هغو سوچونو سره بیا له خوب سره یو ځای شوی وم، او ما عجیبه خبه ولیدل . عجیبه خبه مې واوریدل .

ما بیا راډیو ته لاس کړ . بیا مې روښانه کړله . بیا هم د مرګ اعلانونه وو . ټول د مړینې خبرونه وو . څه یې تېر شوي وو او څه لا روان وو . داځل مې خدای خبر څنګه په حوصله غوږ ور ته نیولی و . ما ځینې نومونه په کښې پېژندل او ځینې مې نه پېژندل . خو یو ناڅاپه د راډیو غږ زما پاملرنه خپلې خواته واړوله :

- صادق ... پلار ...

زه وارخطا شوم :

- عجبه ده ، زما د پلار نوم !

راډیو مې یو څه جګه کړه :

- حبیب ... کاکا ...

زما زړه ټوټوټه پیل کړل . د راډیو غږ مې نور هم جګ کړ . خپل غوږونه مې نور هم راډیو ته ورنږدې کړل :

- کلیم او ... ورونه ...

او زما زړه درز وغورځېد .

ټول زما د وړوڼو نوموونه وو . زما د ټولو وړوڼو نوموونه.

د زړهٔ د رډا مې زياته شوه . راډيو ته مې نور هم غوږونه ورنژدې کړل :

- د لوړنګ . . . د مړينې له کبله . . .

عجبه ده ! زما د مرګ اعلان و . زهٔ مړ وم ، او ما يو وار چيغې کړې :

- نه نه ! زهٔ ژوندى يم . . . زهٔ ژوندى يم . . .

چيغې مې نورې هم لوړې کړې :

- دا دروغ دي . . . زهٔ دا دى ژوندى يم . . . ژوندى يم . . .

او هغو چيغو زهٔ له خوبه راويښ کړم . زهٔ په خپله کوټه کښې يوازې وم . زهٔ ټول خولې خولې شوى وم . زما زړهٔ لا هماغسې ټوپونه وهل . زهٔ په ډېره بيړه له خپله ځايه راجګ شوم . ما راډيو ته لاس کړ . راډيو غلې وه . زما لاسونه رپېدل . ما په لړزېدلو لاسونو راډيو راواخېستله . خپل ټول زور مې خپلو دواړو لاسونو ته راټول کړ . راډيو مې هوا ته پورته کړه . راډيو ډېره زياته ځګه شوه ، او ما ته هغه خپل د کوچنيتوب د دوران د خوب هغه خاطره يوځل بيا رايادہ شوه . راډيو لا په هوا کښې وه . هغه لا زمکې ته نهٔ وه رارسېدلې چې زما په غوږونو کښې څهٔ عجيبه انګازې جوړې شولې . څهٔ عجيبه سندريزې انګازې وې . زما د سندريزې ورکې د لټون ځواب و .

زما ورکه سندره وه . په تروله هوا کښې يې انګازې خپرې وې . له کومې لورې راتللې . غږ يې هداسې له مستۍ سره يوځای کېده :

– ستا په لاس کښې جام جام

خدای دې راپخلا کړه . . .

زه په دې فکر کښې وم چې خدای خبر دغه انګازې له کومې لورې راځي ، دغه ورکه له کومه راپيدا شوه ؟ څنګه راپيدا شوه ؟

او زما راډيو لا زمکې ته نه وه رارسېدلې چې زه دغې ورکې سندرې ، دغو سندريزو انګازو له ځانه سره په هوا کړم .

کابل

۱۳۶۶،۸،۴ش

PROPERTY OF ACKU 1148

خط: ...

# T R O G M A I

(Moonless Night)

Collection of Short Stories

M. Zarin Anzor

Writers Union of Free Afghanistan

Series No. 50

1990